

EU AFGHANISTAN
PEACE SUPPORT
MECHANISM

میکانیزم حمایت اتحادیه اروپا
از پروسه صلح افغانستان
د افغانستان د سولي څخه
د اروپايي ټولني د ملاتړ تګلاره

# هېواد: د راتلوونکي لەپاره د افغان مدني ټولني سناريوګانې

Funded by the European Union

# وړاندیز

د ۲۰۲۱ کال د اګست میاشتې پر ۱۵ مه نېټه، له هېواد څخه د پخواني ولسمشر اشرف غني په وتو او د طالبانو له لورې د واک ترلاسه کولو سره، په افغانستان کې یو نوی پړاو پیل شو. دغه بدلون زموږ خلک او هېواد له بې باوره راتلوونکې سره مخ کړ.

په دغه ناڅرګند حالت د افغانانو د ژوند بېلابېل اړخونه اغېزمن شول چې په ترڅ کې یې زرګونه افغانان د هېواد پرېښودو ته اړ شول. دا په داسې حال کې ده چې په هېواد کې د پاتې افغانانو ورځنی ژوند او د معیشت وضعیت هم لاترینګلی شوی دی. دغه ډول نامنظم حالت له امله د مدني ټولنې فعالان هم په سختۍ سره کولی شي د پرمختګ څرنګوالی درک کړي.

د دغه نوي واقعیت په رڼا کې، یوې داسې فضاء ته اړتیا وه چې په ترڅ کې یې افغان دینفعان سره راټول شي او نوي بدلونونه او پر افغانستان په تېره بیا د دغه هېواد پر مدني ټولنې د هغو عواقب وارزوي. په داسې حال کې چې د مدني ټولنې د ساتلو/ دوام په اړه په افغانستان کې د ډېری ښکیلو فعالانو ترمنځ توافق شته، خو د مدني ټولنې د تشکیل بڼې، فعالیت په تېره بیا له بالفعله چارواکیو سره یې د اړیکو څرنګوالي په اړه لاهم د نظرونو اختلاف موجود دی.

همدغه لامل وو، چې موږ د ۳۰ تنه افغانانو یو ټیم، چې د مدني ټولنې مشران یا متخصصین پکې شامل دي، پرېکړه وکړه چې د افغان مدني ټولنې د راتلوونکي له‌پاره د بدلېدونکو سېناریوګانو په یوه پروسه کې ښکیل شو، څو د ممکنه راتلوونکیو په اړه یوه سناریو رامنځته کړو.

موږ د سناریو ټیم په ګډه سره داسې توپیر لرونکې راتلوونکې انځور کړې چې ښایي د منلو وړ واوسي تر څو هغه احتمالي موارد چې ښایي ورسره مخ شو، په پام کې ونیسو، ځان ورسره عیارکړو او په دې وتوانېږو چې په ځېنو احتمالي مواردو باندې اغېز ولرو. زموږ ګډ هدف په هېواد کې د بدل شویو تړاوونو د درک شریکول او پراختیا او د مدني ټولنې په برخه کې د هغو تعبیر دی. دغه سناریوګانې د افغانستان راتلوونکې په تېره بیا د مدني ټولنې له اړخه د انتقادي فکر رامنځته کولو په موخه شریکوو. دغه چاره موږ ټول د راتلوونکیو ننګوونکیو غوراوي برخه کې د ستراتیژیک تفکر رامنځته کولو وړتیا رابښي او هیله‌مند یو چې په خلاصو سترګو او پوهاوي سره پر مخ لاړ شو.

لاسلیک

د ټولو ګډونوالو نومونه

# سریزه

هېواد: د افغان مدني ټولنې راتلوونکې سېناریوګانې"د افغان مدني ټولنې د ۳۰ تنو ژمنو او روڼ اندو فعالانو له لوري چې له قومي، ژبني، سمتي، مذهبي او همدارنګه د جنسيت، سن او تخصص له اړخه سره توپير لري، تشکيل شوی چې د پخواني او نوي افغان ډياسپورا او په هېواد کې دننه د هغوی همکاران هم په‌کې شامل دي. هغوي په دغه ريپورټ کې د معرفي شويو سناريوګانو ليکوالان او توحيدوونکي دي. دغه سناريوګانې د افغان مدني ټولنې د ټيم غړيو او په هېواد کې دننه د هغوی د همکارانو په مشورو او د درک او تجربو د شريکولو سره چمتو او تدوين شوې او يو ژمن او وفادار ايډيټر د هغوی د آوازونو په لېږد او تأييد سره د سناروېوګانو د متن په ليکلو کې مرسته کړې ده.

دغه ټيم د سناريوګانو جوړولو له‌پاره د نظريو شريکولو په برخه کې په حضوري مرکو کې په ښکيلتيا سره په يوه پنځه ورځنۍ روزنيز ورکشاپ کې سره راټول شو. دغه بهير چې « د بېلابېلو سناريوګانو بهير » په نوم نومول شوی، د دې لامل شو چې د مدني ټولنې فعالانو يو ګروپ په ګډه د راتلوونکي وضعيت له‌پاره د سناريو جوړولو له‌پاره چې په‌خپله د هغې برخه دي، همکاري وکړي. د دغه بهير هدف نه يوازې دا چې د هغه سره د تطبيق له‌پاره د بدلون په حال کې وضعيت څخه د درک او پوهاوي بلکې په راتلوونکي مسير باندې اغېزلرونکي وضعيت بدلون له‌پاره د حل‌لارو موندل دي.

دغه سېناريوګانې د هغه څه په اړه احتمالي داستانونه دي چې ښايي په راتلوونکي کلونو کې پېښ شي او د اوسنيو واقعيتونو او کليدي قاطعيتونو او نه قاطعيتونو په اړه پوهاوي دی. دا نه د هغه څه په اړه وړاندوينه ده چې ښايي پېښ شي او نه هم د وړاندوينې وړ پاليسۍ ده چې بايد ترسره شي.

دغه سېناريوګانې چې اړوندې، ننګوونکې، معتبرې او څرګندې دي، د افغان مدني ټولنې اوسني وضعيت ته په کتو چمتو شوي او د راتلوونکي کړنو او تکامل څرنګوالي په اړه کيسې دي. دا د ګروپ د وروستيو تصوراتو داستانونه دي چې زموږ له تصوراتو او انتظار څخه په لوړه او په پراخه کچه دي. هغه د افغان مدني ټولنې پر وړاندې د شته ننګونو او فرصتونو په اړه رغانده او پرانيستی انعکاس دی او د ښې راتلوونکې له‌پاره له ممکنه حل لارو څخه ملاتړ کوي.

د افغانستان اوسني وضعيت په څېر، په يوه پېچلې، توپير لروونکي او ناڅرګند وضعيت کې د سناريو جوړول کولی شي د هېواد اوسني واقعيت ته له احتمالي او ويروونکي مسيرونو څخه په پراخه کچه د ليدلوري پراختيا له‌پاره ګټور وي. سناريوګانې کولی شي، د تخيل پراختيا، د بېلابېلو احتمالي لارو موندلو او د هيلې او عامليت حس راګرځولو کې مرسته وکړي. له دې سربېره، د راتلوونکې په اړه د يو زيات شمېر داستانونو جوړولو دنده ځانګړيو موقعيتونو ژمنتيا او هوکړې ته له اړتيا پرته د راتلوونکيو فرصتونو امکانات برابروي. سناريوګانې موږ ته د دغه واقعيت د درک وړتيا راکوي چې ـ که څه هم نه‌شو کولی د راتلوونکې په اړه وړاندوينه وکړو يا يې کنټرول کړو ـ خو کولی شو له هغه سره کار وکړو او اغېز ورباندې ولرو.

د دغو سناريوګانو موخه د افغانستان مدني ټولنې په قضيو کې اړوندو او ښکيلو مراجعو کې د عملي اقداماتو او بحثونو هڅول دي. دغو کسانو کې ښايي په هېواد کې دننه مدني فعالان، دياسپورا او همدارنګه بين‌المللي ټولنې سازمانونه شامل وي.« که چېرې دغه سناريو پېښه شي، موږ ته به څه معنی ولري؟» او که دغه سناريو پېښه شي، څه کار کولی شو؟ کوم غوراوي به ولرو؟» مسائلو ته په پام سره د هرې سناريو له‌پاره په څو بحثونو او دويم دا چې د سناريوګانو ټولګې ته په کتو سره دا په پام کې ونيسئ چې « يو زيات شمېر احتمالي راتلوونکيو ته په پام سره موږ څه کولی شو؟» سره پيل شي.

# سناریوګانو ته کتنه

څومره چې د افغانستان مدني ټولنې راتلوونکي نامعلومه او بې برخلیکه ده، په همغه اندازه ځینې قاطعتونه هم شته دي؛ په دې معنی چې مدني ټولنه فعاله ده خو د طالبانو او ځینو نورو هېوادونو اقداماتو وربانديې اغېز کړی له همدې امله د پرمختګ لار به آسانه نه‌وي.

ځینې ابهامات هم شته چې په هغه کې د ښځو وضعیت، اطلاعاتو او زده‌کړو ته لاسرسي، د افغانانو هوساینه، د تاوتریخوالي کچه او ټولنیز انسجام هغه ابهامات دي چې تر ډېره یې د سناریو ټیم له اندېښنو سره مخ کړی دی.

د افغانستان او مدني ټولنې پرمختګ احتمالي راتلوونکي له‌پاره زیاتي لاري شته. د سناریو ټیم څلور مورده د دغو پلټنو له‌پاره تر ټولو ښو هغو په توګه غوره کړي دي.



په لومړۍ سناریو کې، د کړکۍ پردې، یو ګواښوونکی داستان دی. دغه داستان « که ویره، ګوښه والی او تاوتریخوالی پرېښودل شي، څه به پېښ شي» موضوعګانو باندې تمرکز لري.


په دغه سناریو کې د کړکۍ پردې، افغانستان لاهم د یوې بندې کوټې په څېر منزوي او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه جلا هېواد دی او په هېواد کې دننه هم د یو بل ترمنځ د خلکو اړیکې پرې شوي دي. بالفعله حکومت د اتباعو او نړیوالې ټولنې غوښتنو ته د نه پاملرنې له امله لاهم په رسمیت نه‌دی پېژندل شوی او محدودو سیاسي او مادي سرچینو ته لاسرسی لري. حکومت د توندلارو او افراطي عناصرو په لاس کې دی او له ټولو بنسټونو سره د هغه څه پر بنسټ عمل کوي چې دوی یې له اسلام څخه لري او په پایله کې د ورځني ژوند شرایط په براخه کچه خراب شوي او د ژوند لومړنیو اړتیاوو او خدماتو ته لاسرس محدود دی چې بالاخره دغه ناهیلوونکي شرایط د ویرې، دښمنۍ او تاوتریخوالي لامل ګرځي. ښایي د ترهګرۍ پراختیا او د قومونو تر منځ د جګړو او تاوتریخوالی د زیاتوالي له امله تر ۲۰۳۰ کال پورې هېواد سره وپاشل شي.



دویمه سناریو، د دروازو له منځه د رڼا وړانګې داسې یوه افغانستان تشریح کوي چې له نن ورځې سره ډېر زیات توپیر لري. د ډېری افغانانو له‌پاره د پردې لرروونکي کړکۍ خونې په توګه د خپګان احساس شته دی. په کمه کچه بدلون شته، حرکت سوکه دی خو په پردو کې هم ځینې چولې شته چې د رڼا وړانګې دننه خوا ته راشي.

په دغه سناریو کې بالفعله حکومت په دې توانیدلی چې د خلکو او سیاسي مخالفانو د افکارو، نیوکو، په ټېټه کچه کې د افغانانو د هوساینې ساتلو سره په هېواد کې نسبي خو ماتیدونکي آرامي حاکمه واوسي. یوازې هغو مدني فعالیتونو ته اجازه ورکول کېږي چې په مستقیم ډول د خلکو د ژوند بقاء سره تړاو ولري، له هغه پرته د حق‌غوښتنې، وړتیا لوړونې، زده‌کړو او تعلیم په څېر فعالیتونه په رسمي توګه جواز نه‌لري. د هېواد په ځینو

سیمو کې د مدني ټولنې فعالیتونه چې حکومت ته کوم ګواښ نه پیښوي، د حکومتي چارواکیو د منلو وړ دي. په داسې حال کې چې بسپنه ورکوونکي هېوادونه د مالي مرستو ترڅنګ پر اصلاحاتو هم ټینګار کوي، نور هېوادونه تر ډېرې کچې د افغانستان په کورنیو چارو کې له مداخلو څخه ډډه کوي.



د دغه وضعیت له امله ډېری افغانان ستونزمن خو د پایښت وړ ژوند تجربه کوي. د دغې ظاهري سولې تر پوښښ لاندې ډېرې ترینګلتیاوې هم شته چې کېدی شي راوخوټېږي.

درېیمې او څلورمې سناریوګانې له پرانیستو پردو او بدلون باد سره ملې دي. کېدی شي د دغو دوو سناریوګانو عناصر په داسې یو وخت کې انځور کړو چې دواړو هغو کې د هېواد په راتلوونکي کې مدني ټولنه فعال رول لري. د دوو نورو سناریوګانو په څېر، په لومړیو کې شرایط ډېر ستونزمن وي. په همدې حال کې دواړو دغو سناریوګانې کې مدني ټولنه نه یوازې د افغانانو د ورځنې ژوند اړتیاوو په ټینګښت، بلکې بدلون لروونکي راتلوونکي لهپاره د فشاربرخه کې هم فعال رول لوبوي. د بدلون باد، دغه فشار د بالفعله حکومت پر وړاندې د یو ولسي پاڅون بڼه خپلوي، په داسې حال کې چې په پرانیستې پرده کې د ټولو لورویو ترمنځ بحثونه هغه ستراتیژۍ ده چې د هېواد په پرمختګ کې مرسته کوي. له دغو سناریوګانو څخه یوه هم له روښانه، اسانه او هوسا راتلوونکي سره پای ته نه رسېږي. سره له دې، د بدلون باد او پرانیستې انځوریزې پردې د داسې یوې راتلوونکي لهپاره د مدني ټولنې تشکیل ځرنګوالی انځوروي.

د بدلون باد لکه د کړکیو پرانیستل کېدو او خوني ته دننه د باد خوځېدو سره، حرکت او بدلون شته. په دغه سناریو کې یو بالفعله ناکاره او تړلی حکومت د خپلو اتباعو حقوق محدودوي او نهشي کولی د خلکو اړتیاوو ته رسیدنه وکړي. دغه وضعیت د وخت په تېرېدو سره په پراخه کچه د خلکو د نارضایتی لامل کېږي. د افغان مدني ټولنې رهبران اغېزناک انتظام چې ډېری یې ښځې دي، په هېواد کې دننه او بهر مرسته کوي چې دغه نارضایتي د بدلون لهپاره پر یو ټولنیز خوځښت بدله شي. په داسې حال کې چې حکومت ته لاهم فرصتونه شته چې د بدلون لهپاره اصلاحات راولي، خو دغو فرصتونو لهپاره عملي اقدام نهکوي. له دې سربېره، له سیمې څخه په پراخه کچه ګاونډیو هېوادونو ته په بالقوه ډول سره د ترهګرۍ تاوتریخوالي پراختیا د دې لامل کېږي چې نور هېوادونه هم له دغه بدلون څخه ملاتړ وکړي او په دې توګه تر ۲۰۳۰ کال پورې د یو انقلابي بدلون احتمال تر سترګو شي.

په وروستۍ سناریو کې، د بهر منظرې لیدو په موخه د پردو پرانیستو په توګه د درک، اړیکو او بدلون لیدو لهپاره مخ په وده وړتیا شتون لري. د منځلارو او بېلابېلو سیاسي جریانونو رهبرانو جوړه یوه کوچنی ډله د خبرو اترو، پخلاینې او جوړجاړي لهپاره راټولېږي.

که څه هم د دغې ډلې غړیو کې د هېواد راتلوونکي په اړه توپیر لروونکي لیدلوري او د تېر په اړه د بدبینۍ احساس شته، خو د یوبل منل د پرمختګ لهپاره تر ټولو ښه طریقه ګڼي. که څه هم د خبرو اترو او پخلاینې بهیر سوکه دی خو کولی شي هېواد د پراخې راتلوونکي پر لور بوځي.

بینالمللي ښکیل لوري د خبرو اترو آسانتیا او زمینې برابرو کې په مداخلې سره هڅه کوي چې دغه پروسه دافغانانو په مشرۍ پر مخ لاړه شي. د افغانانو د ژوند شرایط د حقونو د زیاتوالي، د ژوند اړتیاوو ته د لاسرسي او ټولنیز انسجام له لارې په تدریجي توګه د ښهوالي پر لور درومي.

## پرتله‌ییز جدول

بنايي راتلوونکي د خلورو طرحه شويو سناريوګانو يو ترکيب ياهم بله سناريو واوسي، له همدې امله د دغه پيچلي چلندونو په اړه بحث او څرګند درک لپاره هغه په توپيرو لرونکيو سناريوګانو ويشو. په لاندې جدول کې د سناريوګانو د کليدی عناصرو يوه ساده شوې نسخه پرتله شوي ده.

| | پردې | د درزونو له لارې رڼا | ولسي خوځښتونه | پرانيستي پردې |
|---|---|---|---|---|
| **د سناريو ماهيت** | | | | |
| **د دغې سناريو ماهيت څه دی؟** | د وېرې او سيالي حاکميت تفرقه او اختلافات د پاشل‌کيدو لامل کيږي | ماتيدونکی پايښت د ثبات ساتلو لپاره له درزونو سره مل په لوړه کچه د کنټرول لامل کيږي. | خلک له وضعيت څخه تنګيدو له امله د حکومت د بدلون لپاره منظم کيږي | سوکه بحثونه د جوړجاړي او سولې ټينګښت زياتوالي لامل کيږي |
| **کليدي څانګړني** | شخړه او ماتي | نه جوړجاړی او محدوديتونه | بدلون لپاره تولنيز خوځښت | جوړجاړی اوپخلاينه |
| **د کليدي فعالانو موخي او ستراتيژۍ** | | | | |
| **د مدني تولني لومړنۍ موخه** | بقاء او ژغورنه | د افغانانو او مدني تولني د لومړيو اړتياوو تأمين | د بشري حقونو تأمين | د پراخ بنسټه ټولنې تشکيل |
| **د مدني ټولنې له لوري کارول شوې مسلطې ستراتيژۍ** | بين‌المللي ملاتړ او د پوهاوي زياتوالي | په هېواد کې پټې فعاليتونه او غيرسياسي خدماتو وړاندې کول، له هېواده بهر دوامداره حق‌غوښتنه | د خوځښت رامنځته کيدل او د خدماتو وړاندې کيدل | د خبرو اترو، سولې ټينګښت، او رسمي او غيررسمي مذاکراتو لپاره وړتيا جوړونه |
| **د حکومت څانګړې کړنې** | د مخالفو ترهګريزو او نورو وسلوالو ډلو د کنټرول او نه پخلاينې لپاره دوامداره جدي هڅې | د منځمهاله آسانتياوو له لارې د ماتيدونکي ثبات ساتلو لپاره هڅې | محافظه کاران د نه پخلاکيدوونکي وضعيت ساتلو باندې ټينګار کوي | د تولګډونه حکومت پر لور بحثونو کې ګډون او د ملاتړ پراختيا |
| **د بين‌المللي ټولنې فعالانو مشخص اقدامات** | يو شمېر بهرني هېوادونه د بالفعله حکومت مخالف وسلوالو سره د مالي او نظامي تجهيزاتو مرسته کوي | د بنځو وضعيت په برخه کې د محدودو بدلونونو لپاره فشار، د خلکو اساسي اړتياوو پوره کولو لپاره مالي تمويل، بشردوستانه مرستې | د مالي مرستو تأمين لپاره د شرطونو وضع کولو له لارې بالفعله حکومت باندې اغېز لپاره د مالي سرچينو تأمين، له بالفعله حکومت يا مقاومت خوځښت څخه مالي ملاتړ | لوړ مشارکت، د مالي سرچينو تأمين، د بحثونو لپاره د بستر چمتو کيدل، له پراختيا څخه ملاتړ، وړتيا جوړونه او د سوله ساتو ځواکونو ځای پر ځای کول |

**په افغانستان کې میشتو خلکو تجربه**

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| **د ښځو وضعیت** | په عمده ډول فقر، نالوستي، وزګارتیا، ګوښه والی، ځپل شوي، او په مخ په زیاتیدونکې توګه د وسلوالو تاوتریخوالو او نښتو تر اغیز لاندې د وسلو پورته کول | زده‌کړو او کار ته محدود لاسرسی او د فقر او کورني تاوتریخوالي تجربه کول | کار او زده‌کړو ته د لاسرسي تدریجي ښه‌والی او د مقاومت خوځښت رهبري. | په ډیالوګونو کې د ښکیلو ګمارل شویو کسانو کې د زده‌کړو لروونکیو وګړیو زیاتوالی |
| **د افغانانو هوساینه** | د لومړنیو او خوندیتوب اړتیاوو ته کمزوری لاسرسی او په دوامداره توګه دترینګلتیا په لور تګ | ژوندي پاتې کیدل خو له هوساینې پرته | وګړي په لومړیو کې په بدو شرایطو کې ژوند کوي خو په تدریجي ډول د ښه‌والي پر لور درومي | مخ پر زیاتیدونکې توګه ښه‌والی، خوندیتوب او ډاډمنتیا |
| **معلوماتو او نظریو ته لاسرسی** | د بیان ازادي نشته او معلوماتو ته لاسرسی ډېر محدود دی | د بیان ازادي او د غونډو رابلل محدود دي، اطلاعاتو ته لاسرسی د ټولو له‌پاره محدود دی او رسنۍ تر پراخ محدودیت لاندې او ټولنیزې رسنۍ د امکان تر بریده بې باوره دي | د بیان ازادي او غونډو رابلل محدود خو ټولنیزې رسنۍ د لاسرسي وړ دي | د بیان او غونډو جوړولو آزادي د پراختیا په حال کې ده |
| **نژادي توپیرونه** | شته ترینګلتیاوې د فردي او ګروپي جګړو په بڼه راڅرګندیږي | له بېلابېلو قومونو سره توپیر لرونکی چلند کیږي | قومي توپیرونه حتی د امکان تر حده بې ارزښته کیږي او په کلیدي تصمیم نیونو کې د مناسبې استازولۍ او حضور پرته | د بېلابېلو قومونو هویت راڅرګند او د بحث وړ ګرځي |

# د کړکیو پردې

یوه داسې خونه انځور کړئ چې په بشپړ ډول تړلې، تیاره او منزوي وي او د وخت یا هغه څه په اړه چې بهر پیښیږي، ډېر کم احساس شتون لري.

په دغه سناریو کې افغانستان د یوې تړلې، ګوښه او د نړۍ له نورو هېوادونو څخه جلا هېواد په پام کې نیول شوی او په هېواد کې دننه هم د خلکو ترمنځ رغانده اړیکې محدودې دي. په دغه سناریو کې بالفعله حکومت دې ته حاضر نهٔدی چې د هېوادوالو او نړیوالې ټولنې غوښتنو ته تسلیم شي له همدې امله د نړیوالو لهٔخوا لاهم په رسمیت نه دی پېژندل شوی. دا په خپل وار د دې لامل کېږي چې محدودو مالي او سیاسي سرچینو ته لاسرسی ولري. د هېواد رهبري او اداره په عملي توګه د هغو افراطي عناصرو په لاس کې لویدلې ده چې ټولې چارې د خپلو هغو ایډلوژۍ پر بنسټ ترسره کوي چې دوی یې د اسلام له تفسیر څخه لري. په پایله کې د ورځني ژوند شرایط په پراخه کچه خرابیږي، د ژوند لومړنیو اړتیاوو او خدماتو ته لاسرسي کمیږي چې دغه ناهیلوونکي عناصر په ټولنه کې د ویرې، دښمنۍ او تاوتریخوالي زیاتوالي لامل کیږي. په دوامداره توګه د نشهٔیي توکیو د مؤلدو توکیو او کوکنارو کښت په زیاتوالي سره په ټول هېواد کې د طالبانو پر ضد وسلهٔوال فعالیتونه زیاتیږي چې د امنیت خرابیدو او د کورنیو بې ځایه شویو کسانو د شمېر زیاتوالي لامل کیږي. په پایله کې ښایي د ترهګریزو ګواښونو او همدارنګه د قومونو ترمنځ د تاوتریخوالي او جګړو زیاتوالي له امله په ۲۰۳۰ کال کې هېواد وپاشل شي.



# مهالوپش

په ۲۰۲۲ کال کې د نړۍ له نورو برخو سره د افغانستان د بالفعله حکومت اړیکو کې په محدوده کچه بدلون رامنځته شوي او حکومت لاهم د هیڅ کوم هېواد لهخوا په رسمیت نهدی پېژندل شوی او له بیرنیو مرستو پرته نورې مرستې هېواد ته نه راځي. په هممهاله توګه ترهګریز تاوتریخوالی، چاودنې، ځانمرګي بریدونه او دې ته ورته پېښې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې ترسره کېږي. کارموندنه ستونزمنه شوې او په پایله کې په هېواد کې د بانکي سیستم ستونزې او اقتصادي فعالیتونو محدودیت له امله د ملي پیسو ارزښت راکمېږي. له نورو هېوادونو سره د محدودو سوداګریزو اړیکو سربېره، افغانان لاهم د خپلو لومړنیو اړتیاوړ توکیو په پیرکې له ستونزو سره مخ دي چې په پایله کې دغه لاملونه هره میاشت په سلهاوو تنه هېوادوال له افغانستان څخه وتو ته اړ کوي، په هېواد کې دننه او بهر افغانانو ژوند باندې د ویرې، ناهیلۍ او ګوښهوالي فضاء سوری غوړولی دی.



ناهیلۍ او اقتصادي ناورین د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د مدني اعتراضونو او وسلهوالو مبارزو لامل کېږي.

د ۲۰۲۳ کال په لومړیو کې په داسې حال کې چې ښوونځي په شدیده توګه تر ځار لاندې دي، بالفعله حکومت له شپږم څخه پورته ټولګي هم د نجونو پر مخ پرانیستي دي او د پوهنتون په شمول د ښوونځیو تعلیمي نصاب باندې په ټولو کچو کې په داسې ډول بیاکتنه کېږي چې تر ډېره پر دیني زدهکړو ډېر ټینګار کوي. په پایله کې په ښوونځیو کې د ښځینه او نارینه زدهکوونکیو شتون په پام وړ توګه راکمېږي.

ډېری افغان سیاسي فعالانو او دیاسپورا پر بالفعله حکومت د تعلیمي نصاب، ښځو ته د کار کولو حقوقو، د بیان آزادۍ زیاتولې په برخه کې د نړیوالو لهخوا د بدلون فشارونو پالیسۍ څخه ملاتړ کوي. په پایله کې دغه ملاتړ او په ژیوپولیټیکو برخو کې پاملرنې ته د سیالۍ غوښتنې سره سره ډېر کم هېوادونه له بالفعاله حکومت سره د غیررسمي ډیپلوماتیکو خبر اترو ته دوام ورکوي خو له دغو فشارونو سره بیا هم د اصلاحاتو په برخه کې ډېر محدود بدلون ترسترګو کېږي.

بالفعله حکومت خپل ځواک د مذهبي قوانینو تطبیق څخه د ډاډمنتیا او له ترهګریزو سازمانونو سره پر مبارزې متمرکز کړی. په ټول هېواد کې داسې کسان ګمارل شوي څو هر ډول کړنو په اړه چې حکومت له ننګونو سره مخ کوي یا د هغوی له مذهبي تعریف سره په ټکر کې وي، معلومات ورکړي. د امربالمعروف او نهي عنالمنکر وزارت ارزښت لازیات او نفوذ پیدا کوي او دا تضمینوي چې له محرم پرته ښځو پر سفر، عمومي ټولنو د تشکیل، د حجاب رعایت، د لمانځه پر مهال د ټولو فعالیتونو له بندولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو او په جماتونو کې د خلکو شتون په شمول ټول محدود شوي قوانین په شدت سره تطبیقېږي. هغوی همدارنګه سندرې، موسیقي او ګډا منع کوي او فرهنګي فعالیتونه پر مذهبي هغو پورې محدودوي. فرهنګي جشنونه لکه د نوروز( د لمریز کال لومړۍ ورځ) او یلدا شپه ( د کال تر ټولو اوږده شپه) منع کوي.

بالفعله حکومت په دغه لیدلوري سره چې ډېری مدني فعالان لویدیز پلوه او مدني فعالیتونه غربي پدیدې دي، په هېواد کې مدني فعالیتونه محدودوي او دغو بنسټونو ته د جواز له ورکړې څخه ډډه کوي. یو شمېر سیمهییزې شوراګانې او مذهبي سازمانونه په یو ډول سره فعال دي خو خلکو ته د خدماتو په رسولو کې په شدت سره محدودېږي. دغه موضوع د دې لامل شوې چې بینالمللي مرستې هم راکمې او یا په بشپړ ډول بندې شي. په همدې حال کې هر هغه فعالیت ته چې لومړنیو خدماتو له وړاندې کولو څخه په پراخه کچه وي، اجازه نه ورکول کېږي او د بودجې ترلاسه کولو وړتیا له لاسه ورکوي. کله چې سیمهییزې شوراګانې راټولېږي، څارونکي ورسره وي او د بحث وړ موضوعاتو پراختیا محدودوي.




له دین، بالفعله حکومت، له دیني مسائلو څخه د بالفعله حکومت د تفسیر نقد له رسمي او غیررسمي غبرګونونو سره مخ کېږي.

ډېری حکومتي خدمات محدودېږي، د بېلګې په ډول په هېواد کې حقوقي مسائلو ته د رسیدنې رسمي حقوقي سیستم وړتیا راکمېږي او دا د دې لامل کېږي چې ډېری خلک خپلې حقوقي قضیې سیمه‌ییز قضایي سیستم ته راجع کړي او یا له وضعیت څخه د مایوسۍ له امله د هغو د پرمخ بیولو لپاره هیڅ ډول هڅه ونه‌کړي.

په دغه ډول شرایطو کې ډېر پام د اخلاقي جرمونو مهار او کنټرول ته اړول کېږي او د کورني تاوتریخوالي او د خلکو تر منځ اختلافونو په څېر ټولنیزو مسایلو ته کمه پاملرنه کېږي چې په پایله کې د ټولنې په کچه ټولنیز تاوتریخوالي زیات او د دې لامل کېږي چې ډېری خلک له ځورونې او ناهیلۍ سره مخ شي.

د روغتیایي سیستم ستونزې به هم زیاتې شي، ډېری خلک به د ښتناک پاکو اوبو، کافي خوړو او روغتیایي مراقبتونو ته لاسرسي ونه‌لري او یو ډېر کم شمېر متخصصې او معالجې ښځینه ډاکټرانې به په هېواد کې پاتې شي او د درملو د کمښت ستونزه به هم ډېره شي.

بالفعله حکومت د رسنیو فعالیتونه محدودوي او د هغوی خپرونې په شدیده توګه سانسوروي. همدارنګه په هېواد کې دننه پلتفارمونو او ټولنیزو رسنیو ته لاسرسي محدود دی. د هېواد په متعارفو رسنیو کې هر ډول هغه پروګرام او ریپورټ خپرول چې د حاکمانو له ارزښتونو او د حکومت پر فعالیتونو نقد بیانوي جواز نه‌لري. مدني اعتراضات هم منع دي او عاملان یې نیول کېږي او پر سزاء باندې محکومېږي.

د نشه‌يي توکیو تولیدونکیو بوټو کښت او قاچاق له بندیزونو سره په چټکۍ سره د ودې په حال کې دی او د وسلو قاچاق او پلور هم زیات دی. غلا او نور کوچني جرمونه په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې زیات شوي، ډېری خلک نا امني احساسوي او د ځاني امنیت لپاره وسلې پیري.

د حکومت ضد غیرمسلح ګروپونو تشکیل پیلیږي چې ځینې به یې یوازې د ښځو لخوا تشکیلیږي. دغه ګروپونه به په لېږې پرتو او د حکومت له ښار څخه بهر سیمو کې ځای پر ځای کیږي. هغوی به په دیاسپورا کې میشتو افغانانو سره د اړیکو له لارې وسلو او زده‌کړو ته لاسرسی مومي خو په ۲۰۲۳ کال کې دغه ګروپونه په فزیکي بڼه د بریدونو وړتیا نه‌لري.

په ۲۰۲۴ کال کې بالفعله حکومت د ترهګریزو ډلو په مهارولو کې د ناکامۍ او نا هیلۍ له امله په ټول هېواد کې له امنیتي ځواکونو سره د یو ځای کیدو په موخه د جبري ګمارنې بهیر پیلوي. بالفعله حکومت د دغو ځواکونو د تغذیې او مراقبت لپاره په عملي توګه له کلیوالو خلکو څخه عشر او زکات راټولوي او په ښاري وګړیو زیات مالیات وضع کوي. د امنیتي ځواکونو، مخالفو وسله‌والو او شکمنو ترهګرو ترمنځ وسلوالې جګړې زیاتې شوي. له دې سره هم‌مهاله ترهګرې ډلې خپل بریدونه د هېواد له ټولو بهر ګاونډیو هېوادونو ته غځوي.

په ټول هېواد کې په بالفعله حکومت پورې تړاو لرونکیو امنیتي ځواکونو په زیاتوالي سره غیرنظامي وسلوال هم د حکومتي امنیتي ځواکونو پر ضد بریدونو او د وضعیت پر سبوتاژ لاس پوري کوي.

د طالبانو ضد غیر نظامي وسلوالو ډلو فعالیت په زیاتوالي سره بالفعله حکومت خپل پام پر دغو ډلو نفوذ او تحقق ته اړوي. ډېری غیرنظامي وسلوال ګروپونه د ګډ قومي هویت په محوریت تنظیم شوي دي. په پایله کې بالفعله حکومت د دغو ډلو له‌منځه وړلو هڅه کوي. امنیتي ځواکونه د دغو ډلو له منځه وړلو او غچاخېستې لپاره وحشتناکه بریدونه کوي. د دغو خبرونو په خپریدو سره په بېلابېلو ډلو کې د بالقوه قومي تصفیې ویره زیاتېږي. په پایله کې په غیر نظامي وسلوالو ډلو کې د خلکو غړیتوب زیاتېږي.

د دیاسپورا مدني فعالان په هېواد کې د کړکیچ په اړه د پوهاوي زیاتوالي کې ښکیلیږي. هغوی په بین‌المللي او ټولنیزو رسنیو کې د خپلو غړونو د پیاوړتیا په برخه کې په هېواد کې دننه خلکو سره له اړیکو څخه استفاده کوي. هغوی پر حکومتونو فشار اچوي څو ډاډ ترلاسه کړي، هغه کسان چې افغانستان څخه تښتي، کولی شي ویزو ته لاسرسي ولري، پناه واخلي، په کوربه هېوادونو کې د نویو افغان پناه‌اخیستوونکیو له میشتیدو څخه ملاتړ کوي او همدارنګه د هغو کسانو لپاره له بیړنیو مرستو څخه دفاع کوي چې په هېواد کې ژوند کوي او هڅه کوي څو د بېلابېلو ډلو لخوا ترسره شوي جنایتونه مستند شي څو یوه ورخ له انتقالي عدالت څخه ملاتړ وکړي.

په ۲۰۲۶ کال کې په بالفعله حکومت کې داخلي اختلافونه زیاتېږي. بنسټپاله او مترقي لاملونه په هېواد کې له مخ په زیاتیدونکې ترینګتیا څخه ناراضه دي. په حکومت کې دننه غیرنظامي وسلوالو ګروپونو سره د سولې بهیر، له نورو هېوادونو سره د بیاځلي اړیکو ټینګولو، آزادۍ زیاتوالي، ناورین پایته رسولو او همدارنګه له ترهګرو ډلو سره د یووالي لپاره فشارونه شتون لري. دغه ترینګتیاوې د انارشۍ او همدارنګه د واک ترلاسه کولو د هڅو لامل کیږي. دغه بې ثباتۍ په هېواد کې د ثبات ټینګښت او د مخالفو ځواکونو د اغېزناک مهار په برخه کې د بالفعله حکومت وړتیا کمزوري کوي.




په ۲۰۲۸ کال کې وچکالۍ او وسلوالې جګړې د دې لامل کېږي چې محدود محصولات راټول شي، د پيسو ارزښت د کموالي دوام په دې معنی دی چې په ټول هېواد کې ډېر محدود شمېر خلک خوراکي توکيو ته لاسرسی لري. د قحطۍ مخنيوي لەپاره د بين‌المللي فعالانو لەخوا بيړنۍ مرستې چمتو کېږي. په همدې حال کې د مرستې رسولو څو کاروانونو باندې بريدونه شوي چې په ځينو سيمې کې د لوږې لامل کېږي افغانان په دوامداره توګه د هېواد پرېښودو ته دوام ورکوي، په ۲۰۲۸ کال کې د کډوالۍ لوړه کچه ترسترګو کېږي او هره اوونۍ په زرهاوو تنه هېواد پرېږدي. په پايله کې ډېری هېوادونه د بالفعله حکومت مخالفو غيرنظامي وسلوالو ډلو څخه په پټه ملاتړ کوي.

په ۲۰۳۰ کال کې حکومت په دننه او د هېواد سرحدونو د ساتنې په برخه کې له مهمو ننګونو سره مخ دي، په هېواد کې يو زيات شمېر وسلوالې قومي او ترهګريزې ډلې شتون لري چې غواړي د هېواد واک په لاس کې واخلي. په همدې حال کې غير نظامي وسلوال ګروپونه له ګاونډيو هېوادونو سره په يووالي کار کوي. هېواد د تجزيې خوا ته ځي او له ګاونډيو هېوادونو سره د ځينو سيمو د يوځای کيدو خطر شتون لري. له ګاونډيو هېوادونو سره د عمده سرحدي ښارونه يوځای کيدو افغان حکومت له ننګونو سره مخ دی.

آيا بالفعله حکومت کولی شي ځمکنۍ بشپړتيا وساتي؟ آيا هېواد به تجزيه شي؟ د افغانانو برخليک به څنګه شي؟ آيا نور فعالان به په هېواد کې نظامي مداخله وکړي؟







# د درزونو د شاوخوا رڼا

یوه تړلې او توره خونه انځور کړئ. هوا ډېره تیاره ده. دغه سناریو د داسې یوې خونې په څېر ده چې پرده لرروونکې کړی لري، محدود بدلون او سوکه حرکت تر سترګو کېږي. په همدې حال کې په تیاره کې د کړکیو د کوچنیو درزونو په څېر سوري شته چې کوټې ته رڼا رادننه کوي.

په دغه سناریو کې بالفعله حکومت په دې توانیدلی چې په هېواد کې نسبي ثبات ټینګ کړي. دغه ثبات د افکارو او عقایدو په محدودیت، پر سیاسي مخالفانو د بندیزونو او د افغانانو له پاره د لومړنۍ کچې د هوساینې ساتلو له امله ساتل شوی دی. په هېواد کې د مدني ټولنې فعالیت په هغو ساحو کې چې یوازې د خلکو ژوند له بقاء څخه ملاتړ کوي، جواز لري. نور فعالیتونه لکه حق‌غوښتنه، وړتیا لوړونه او زده‌کړې په رسمي ډول جواز نه‌لري. که څه هم د بالغعله حکومت له‌خوا نیمګړتیاوې شته خو مدني ټولنه تر هغه پورې چې بالفعله حکومت ونه ګواښل شي، په بېلابېلو ټولنو او سیمو کې مهم رول لري. نور ډېری هېوادونه په افغانستان کې له مداخلې څخه ډډه کوي.
د دغه وضعیت په پایله کې ډېری افغانان له پایښت، ثبات او ملاتړ سره سره ستونزمن ژوند تجربه کوي. دا چې د بیان آزادي نشته، ډېری فعالیتونه په شدیده توګه محدودېږي، په ټول هېواد کې د خفګان احساس شته او تر دغه ثبات لاندې ډېر درزونه شته چې ګواښوونکي دي.

# مهالوېش

بالفعاله حکومت له ۲۰۲۲ کال راهیسې په عمومي توګه د یوې قوم ډلې لهخوا رهبري کېږي. د ۲۰۲۲ کال تر پایه د بېلابېلو قومونو استازي په منځنیو مدیریتي بستونو کې مقرریږي چې د زیاتې مودې لهپاره په دغو بستونو کې پاتې کېږي. بالفعله حکومت هم خپل ژمن ملکي کسان د ولایتونو د والیانو په توګه ټاکي. په دغه موده کې په قوانینو کې ډېر کم بدلون تر سترګو کېږي خو په عمومي توګه په ټول هېواد کې قوانین په تصادفي بڼه تطبیقیږي. د قوانینو د تنفیذ بڼه د قربانیانو او د قانون سرغوونکیو په قومیت پوره اړه لري او د سیمهییزو توپیرونو په شتون کې پلي کېږي.

د مدني ټولنې فعالانو او د بالفعلو مسوولانو ترمنځ محدودې اړیکې شته. معترضان له بالفعله حکومت سره خبرو ته لاسرسی نهلري او تر ډېره ټکول کېږي. په هېواد کې معترضو ګروپونو اړوندو کسانو کم شمېر په هېواد کې پاتې کېږي.

بالفعله حکومت د ۲۰۲۲ کال تر پایه د نجونو ثانوي ښوونځیو په شمول ټولو ښځینه او نارینه ماشومانو او ځوانانو پر مخ ښوونځي پرانیزي. د بالفعله حکومت اصلي ارزښتونو د ملاتړ او ثبات ساتنې په پام کې نیولو سره د نجونو تعلیمی نصاب پر لومړنیو او دیني زدهکړو تمرکز لري او هلکان د نویو شویو دیني علومو، ریاضاتو او په تاریخ کې د ثبت شویو موضوع ګانو په اړه روزنه ورکول کېږي.



ښځې یوازې هغه مهال له کور څخه بهر د کار اجازه لري چې کاري فضاء له نارینهوو څخه جلا وي. هغوی همدارنګه د بالفعله حکومت د حجاب قانون پر بنسټ د خپل مخ پر پټولو مؤظفي دي. ښځې یوازې په محدودو برخو کې د کار او دندو ترسره کولو اجازه لري.


له هېواده بهر افغانان خپل فعال رول ته لاهم دوام ورکوي. ډېری بهر میشتي افغان د پیسو په رالېږلو سره له خپلو کورنیو سره مرسته کوي څو ژوندي پاتې شي او په کوچنیو پانګونو سره د کار زمینه برابروي. له هېواده بهر د مدني ټولنې سازمانونه او فعالان همدارنګه د بینالمللي مرسته کوونکیو او فعالانو ملاتړ او غوښتنې ته دوام ورکوي. هغوی د افعانانو د هوساینې پروګرامونو او اقداماتو ملاتړي دي او د لومړیتوب وړ هدف یې د ژوند حق، زدهکړې، ټاکنې، د بیان ازادي، د مطبوعاتو آزادي، د ښځو او بشري حقونو تضمین دی. هغوی د دغو موخو ترلاسه کولو لهپاره له مرستندویانو غواړي چې خپلو مرستو ته دوام ورکړي او دغه مرستې له خپلو لومړیتونو او بدلونونو سره چې د بیان ازادۍ زیاتوالي او د ښځو لهپاره د وړتیا ورکوونې پروګرامونو ته د اجازې ورکولو سره اړوند بولي. د هغوی موخه د دې تضمین دی چې افغانان باید هیر نهشي، ښځې له خپلو حقونو څخه برخمنې وي او د پراخبنسټه حکومت جوړیدو لهپاره دې د خلکو د رأیو پر بنسټ ټاکنې ترسره شي.

په ۲۰۲۳ کال کې هغه رسنۍ چې په هېواد کې پاتې، د ځانې سانسور سیاست خپلوي. سیمهییزې رسنۍ کولی شي په بېلابېلو ژبو خپل انتقادي لیدلوري له کوم مشخص پیام پرته نشر کړي. د دغو رسنیو سرچینو ریپورټونه د افغان مدني ټولنې غړیو لهخوا چې په دیاسپورا کې ژوند کوي، راټولېږي او د نړیوالو ټولنیزو رسنیو په پلټفارمونو کې خپرېږي. ټولنیزې رسنۍ سره له دې چې په پراخه کچه ناسم معلومات خپروي، د ډېری افغانانو لهپاره په یوه معتبره اطلاعاتي سرچینه بانډی بدلېږي. په پایله کې هېوادوال د هغه څه په اړه چې په هېواد کې دننه او بهر پیښیږي، کم معلومات ترلاسه کوي.

د ۲۰۲۳ کال تر پایه د مدني ټولنې هغه فعالان چې د بالفعله حکومت د باور وړ دي، د خدماتو وړاندې کوونکیو، د معیشت ملاتړکوونکیو، د روغتیایي او طبي خدماتو وړاندې کوونکیو او د بیخبنسټیزو پروژو د تطبیقوونکیو په توګه د فعالیت جوازونه ترلاسه کوي. د دغو بنسټونو د فعالیت په پیل سره د مدني ټولنې فعالان له مذهبي مشرانو سره **یوځای د شخړو په راکمولو کې مرسته کوي چې د سیمې په کچه رامنځته شي.** دبالفعله حکومت په کچه د مدني ټولنې ملاتړي کسان شته چې د دغو فعالیتونو د ترسره کولو اجازه ورکوي. سره له دې چې د یو شمېر ولایتونو والیان د هر ډول فعالیت ترسره کول منع کوي، خوځینې نور بیا د مدني ټولنې ملاتړي دي.

په هغو ځایونو کې چې د مدني ټولنې سازمانونه خلکو ته خدمت کوي، ډېره کمه بودجه لري. هغوي په عمومي توګه پر سیمه‌ییزو او داوطلبو کارکوونکیو باندې تکیه لري، له هغو خلکو سره په اړېکه کې دي چې له نېږدې ورسره کار کوي، ملاتړ یې کوي او خدمات ورته وړاندې کوي. هغوی د خلکو پر اړتیاوو په داسې بڼه تمرکز کوي چې د امکان تر حده په خپلو ټولنو کې وساتل شي او د ټولنې او بالفعله حکومت له ارزښتونو او کلتور سره توافق ولري. په دغه پړاو کې افغان مدني ټولنه په تبعید کې د ځواب وینې او همدارنګه په بین‌المللي پلېټفارمونو کې د ملاتړ په موخه د بشري حقونو سرغړونې پیښنو مستندولو ته دوام ورکوي.

تر دې مهاله مدني ټولنې ته څرګنده شوې چې ډېرى فعالیتونه جواز لري، خو په دې شرط چې د حکومت مخالف نه‌وي او په روښانه توګه له دیني قوانینو سره د حکومت له تعریف سره مخالفت ونه‌لري. په پایله کې مدني ټولنه په تدریجي بڼه خو په پټه په پراخو برخو کې فعالیت پیلوي، لکه د ټول هېواد په کچه د نجونو د تدریس له‌پاره له داسې تعلیمي نصاب سره کوچني ښوونځي پرانستل چې په پټه به روزنه ورکول کېږي. د مدني ټولنې شبکې او رسنیز سازمانونه راڅرګندېږي چې د اړېکو ټېنګولو له‌پاره له پټو او شفر لرونکیو کوډونو څخه استفاده کوي.



مرستندویان د بودجې په ترلاسه کولو سره بشري مرستې پیلوي او د بودجې په ترلاسه کولو سره اساسي پراختیاوو ته هم دوام ورکوي. دغه یهیر د بوروکراتیکو خنډونو له امله ډېر سوکه دی، ګاونډي هېوادونه له افغانستان سره خپل سرحدونه پیاوړې کوي.

ډېر کم اعتراضونه ترسره کېږي، د مدني ټولنې فعالان داسې ستراتیژۍ ترلاس لاندې نیسي چې ډېر کم عمومیت ولري. د مدني ټولنې لهخوا پټ فعالیتونه زیاتېږي او سیمهییز ملاتړ د هغوی دفعالیتونو د پراختیا امکانات ډېروي.

په بېلابېلو سیمو کې د خدماتو وړاندې کولو کچه ډېر توپیر لري. په هغو سیمو کې چې دینې زدهکړې په آزاده توګه تفسیرېږي، د مدني ټولنې لهخوا بېلابېلو توپیر لروونکي خدماتو ته لاسرسی ډېر دی لکه کرنه، رغاونه او اساسي کارونه. په نورو سیمو کې چې هم د مدني ټولنې او هم د بالفعله حکومت لهخوا په سمه توګه خدمات نه وړاندې کېږي، حتی د ژوندانه لومړنی اړتیاوې هم په ډېرې کمزورې بڼه د لاسرسي وړ دي.

د جغرافیایي توپیرونو له امله په بېلابېلو  قومونو کې د خدماتو او ملاتړ کچه په پام توګه توپیر لري. هغه ټولنې چې په ټېټه کچه ملاتړ ورڅخه کېږي، عموماً هغه کسان دي چې له تاریخي اړخه په افغانستان کې منزوي شوي دي. دغه توپیرونه  په بېلابېلو کچو کې متفاوت دي. په ځینو سیمو کې د بالفعله حکومت ملاتړ کم خو په ځینو برخو کې ډېر دی. د قومونو تر منځ لېرې والی د عامه او ټولنیزو رسنیو له خوا د پیامونو په استولو سره چې  د قومونو ترمنځ اختلافاتو زیاتوالي ته لیواله دي، ډېرېږي. ځینې وختونه د قومونو ترمنځ جګړې پیښېږي، خو دبېلابېلو ټولنو پر وړاندې په رسمي توګه فزیکي تاوتریخوالی نشته.

ډېری خلک د ژوند لومړنۍ اړتیاوې لکه خواړه، سرپناه او روغتیایي خدمتونه په سختۍ سره ترلاسه کوي. ډېری افغانان د پام وړ فقر تجربه کوي، خو د ماشومانو او د بدن د غړیو خرڅلاو بهیر ځکه ودرېدلی چې ډېری افغانان کولی شي د مرستو په ترلاسه کولو سره ژوندي پاتې شي.

په ۲۰۲۴ کال کې بالفعاله حکومت خپلې هڅې د ترهګرۍ د ودې مخنیوي باندې متمرکزوي. ځکه چې مذهبي او نورو وسلوالو ډلو راټوکیدل تر ټولو لوی ګواښ دی چې ورسره مخ دي. وسلې په شدیده توګه کنټرولېږي او د داعش، القاعده او نورو ترهګریزو ډلو د غړیتوب په شک کسان نیول کېږي او زندان ته اچول کېږي.

د ملي ټاکنو ترسره کولو لهپاره مظاهرې تنظیمېږي. په دغو اعتراضاتو کې د خلکو ګډون د انتظار له کچې کم دی. خو د بالفعله حکومت لهخوا په وحشیانه ډول ځپل کېږي ډېری د مدني ټولنې هغه فعالان چې په دغه بهیر کې ښکیل وو، نیول شوي او یا هم له هېواده تښتي چې په پایله کې ځینې فعالیتونه او شبکې چې په تېرو کلونو کې وې، ځپل شوي او منحل شوي دي. څو  ډېری سیمهییز فعالان چې د بالفعله حکومت لهخوا په رسمیت پېژندل شوي او ملاتړ ورڅخه کېږي، خپلو فعالیتونو ته دوام ورکوي.

بالفعله حکومت څو مهم اصلاحات رامنځته کوي چې د یو غیرمتمرکز حکومت لامل کېږي. ډېری دندې او تصمیمونه ولایتونو ته ورکول کېږي. هیڅ ډول قانوني بدلونونه نه دي رامنځته شوي خو په عملي توګه بالفعله حکومت والیان هڅوي چې په خپلواکه توګه اجراآت وکړي. د مدني ټولنې غیررسمي شبکې په ټول هېواد کې خپل بریالیتوبونه له یوبل سره شریکوي. او د ولایتونو په کچه ورو ورو وده کوي. د بالفعله حکومت چارواکي چې په لومړۍ سر کې د ثبات په ساتلو کې فکر کوي، په عمومي توګه اجازه نهورکول کېږي خو دغه بدلونونه له رسمي تصدیق پرته ترسره کېږي او سترګې ورباندې پټېږي.

دغه ډول پټ فعالیتونو باندې ځینې چارواکي خبر دي خو سترګې ورباندې پټوي. سیمهییز مسوولین او رهبران له شخصي عواقبت سره مخ کېږي. بالفعله حکومت له دې موضوع څخه خبر دی هغه ګواښوونکي خدمات چې خلک ورسره مخ دي بنایي د عمومي نا آرامۍ لامل شي. په دې توګه د ځای ناستو خدماتو وړاندې کولو هڅې د اړتیا وړ خدماتو ته په اجازې ورکولو سره حتی د نافرمانۍ له مجازاتو سره هم دوام مومي.




له ۲۰۲۵ کال څخه د مدني ټولنې سازمانونه د اغېزناکو او شته فرهنګ سره سم په پراخه توګه د مذهبي او فرهنګي رهبرانو او سیمه‌ییزو مسوولینو لهخوا د ارزښت وړ ګڼل کېږي او په هغو ټولنو کې د پام وړ انعطاف رامنځته کړی چې فعالیت پهکې کوي. له هغه وروسته د ښځو حقونو پرمخ بیولو برخه کې د مدني ټولنې فعالیتونه زیاتیږي. لږکۍ قومونه د روزنې پراختیا، د خبرو اترو فضاء رامنځته کولو، د منځګړیو په توګه د رول لوبولو او غیررسمي قضایي سیستمونو د ملاتړ لهپاره هڅه کوي. د مدني ټولنې لوبغاړي هم په مخ پر زیاتیدونکې توګه د ولایتونو په کچه د بالفعله حکومت چارواکیو او خلکو ترمنځ د ارتباطي پل په توګه رول لوبوي.

د ۲۰۲۵ کال تر پایه د  مدني ټولنې ډېری پېټ فعالیتونه چې به ۲۰۲۴ کال کې له اعتراضونو مخکې ترسره کیدل ، بیاځلي پیلیږي.

په ۲۰۲۵ ـ ۲۰۳۰ کلونو کې د خلکو او مدني ټولنې لهپاره شرایط په نسبي توګه ثابت دي. طبیعي پیښې، وچکالي، او په سرحدي سیمو کې قسمي جګړې ځینې وختونه آرامي له منځه وړي او د لنډې مودې لهپاره د مصیبت زیاتوالي لامل کېږي.

بالفعاله  حکومت همدارنګه د ماتیدونکي ثبات ساتلو ته دوام کوي. افغانستان له آرامه ژوند لروونکیو وګړیو سره هوسا هېواد نهدي او ډېری خلک د تېر په څېر ځوربېږي. تاوتریخچنې کړنې چې د امریکا د حضور دورې ځانګړنې وي، په نادره توګه ترسره کېږي. ډېری خلک کولی شي کم له کمه د ژوند یو سبک تعقیب کړي. د بیان آزادي یا د اجتماعاتو آزادي نشته.په داسې حال کې چې ښځې په قسمي توګه د ژوند له لومړنې، حقونو څخه برخمنې دي خو د نارینهوو پرته ډېرې محدودیت لري. په دې توګه که څه هم نجونې زدهکړې کوي، خو ډېری یې یوازې په دیني زدهکړو بوختې دي. هغوي په عمومي توګه په کورنۍ کې د راتلوونکیو وګړیو د راتلوونکې مسوولیت لري څو له کورنیو څخه ساتنه وکړي او حرفهیي موقعیتونه به ونهلري. مدني تولنه فعاله ده او اغېزناک توپیر رامنځته کوي خو له ډېر محدودیت سره هم مخ ده.

دغه ماتیدونکی ثبات به تر کومه دوام ولري؟ دغه غیرمنتظره ناورین، د بهرنیانو نفوذ، په حکومت کې دننه اختلافونه، یا بدلون ته د خلکو مخ پر زیاتیدونکې لیوالتیا به د پراخې ګډوډۍ لامل شي؟





# د بدلون باد

پرانیستې کړکۍ او د باد وږمې انځور کړئ. باد پخوانۍ هوا پاکوي او د بدلون او خوځښت زیری راوړي. بدلون ښایي د جوړجاړي او وړاندوینې وړ نه‌وي ښایي ځینې وختونه پردې ګډې وډې شي او یا هم د میز پر سرکاغذونه بې نظمه کړي د باد وږمې او وخت ځرنګوالي په اړه وړاندوینه نه‌شو کولی، خو د داډ خبره دا ده چې باد بدلون راولي. په دغه سناریوکې خوځښت او بدلون لیدل کیږي.

په دغه سناریو کې یو تړلی او ناکاره حکومت په داسې حال کې چې د خپلو اتباعو حقوق یې محدود کړي، نه‌شي کولی د هغوی اړتیاوو ته رسیدنه وکړي. دغه وضعیت د وخت په تېریدو سره د لازیاتو خلکو د نارضایتۍ لامل ګرځي. د افغانستان د مدني ټولنې رهبرانو اغېزناکه رهبري چې ډېری یې ښځې دي، په هېواد کې دننه او بهر مرسته کوي څو دغه نارضیاتي په یو ټولنیز خوځښت بدله شي. په داسې حال کې چې بالفعله حکومت لاهم فرصت لري چې د انقلاب پر ځای اصلاحات غوره کړي، خو له دغو فرصتونو څخه استفاده نه‌کوي. له دې سربېره، په بالقوه ډول ګاونډیو هېوادونو او له سیمې په پراخه کچه د ترهګریزو تاوتریخوالي پراختیا د دې لامل کیږي چې نور هېوادونه هم د حکومت له بدلون څخه ملاتړ وکړي او په دې توګه تر ۲۰۳۰ کال پورې د یو انقلابي بدلون احتمال لازیاتیږي.

# مهالوېش

په ۲۰۲۳ کال کې د افغانانو ژوند شرایط ډېر ستونزمن شوی. له یو فصل وچکالۍ وروسته لاهم قحطي دوام لري او کورنۍ د ژوندي پاتې کېدو لهپاره ناممکنو غوارویو ته اړ کېږي. د ډېری خلکو لهپاره وضعیت ناهیلۍ کوونکی دی. په دیاسپورا کې میشتو افغانانو لهخوا د پیسو کوچنۍ حوالې له ځینو کورنیو سره مرسته کوي خو د ډېری خلکو وضعیت لاهم ناهیلی کوونکی دی.

بالفعله خکومت د بینالمللي مرستو د جلب او زیاتوالي او قحطۍ ختمولو لهپاره ښوونځي د نجونو پر مخ پرانیسي دي. خو د ښوونځیو تعلیمي نصاب یوازې پر دیني زدهکړو پورې منحصر دی. د قحطۍ پر مهال د بینالمللي فعالانو لهخوا د بیړنیو خوړو مرستو وېش تر خلکو رسېږي او تر ډېره کچه له مړینو څخه مخنیوی کوي.

په همدې پړاو کې، د مدني ټولنې فعالانو یوه ډله چې د هېواد د ښځو په مشرۍ جوړه شوې، د ولسي خوځښت پر تنظیم کار پیلوي. د هغوی هدف په هېواد کې د بشري حقونو ملاتړ او رعایت دی. هغوی د ښځو آزادۍ، د بیان ازادي او تبعیض مخنیوي غوښتوونکې دي، له دې سربېره، هغوی د پراخبنسټه حکومت او آزادو او منصفانه ټاکنو لهپاره چې ټول افغانان پهکې د رأیې ورکولو او نوماندۍ حق ولري، هڅه او ورڅخه دفاع کوي. هغوی استدلال کوي چې دا د یو پراخبنسټه او قانوني حکومت بنسټ او اساس جوړوي. دغه لور ته د حرکت لهپاره هغوی همدارنګه د یو لنډمهالي حکومت جوړېدو څخه ملاتړ کوي څو وکولی شي د داسې ټاکنو پر لور چې په ترڅ کې یې افغانان خپل راتلوونکی حکومت په خپله وټاکي، لار هواره کړي. هغوی استدلال کوي چې که چېرې افغانستان د خلکو په رأیې د یو پراخ سیاسي سیستم پر لور حرکت ونهکړي، ښایي په راتلوونکې کې له مخ پر زیاتیدونکې فقر او تاوتریخوالي سره مخ شي.

په ۲۰۲۴ کال کې هغوی همدارنګه یو لړ اعتراضي تاکتیکونه کاروي، خو دغه اعتراضونه د ځیوونکیو اقداماتو او له هېواد څخه د فعالانو د تېښتې له امله راکمېږي. پاتې کسان چې بدلون غواړي، له مترقي دیني عالمانو سره همکاري کوي څو خپلې موخې د دیني تفسیر په چوکاټ کې بیان کړي، هغوی استدلال کوي چې یو ریښتونی اسلامي هېواد چې له قرآني زدهکړو څخه ملاتړ کوي، باید دغو حقونو ته درناوی ولري. هغوی همدارنګه د ښځو حقونو لهپاره چوکاټ وړاندې کوي چې د هغوی په باور لویدیز نه بلکې اسلامي تفسیر دی.

د مدني ټولنې ډېری رهبران د یو پراخ ولسي خوځښت ستراتیژۍ غوره کولو سره هڅه کوي چې لومړنیو حقونو ته د لاسرسي لهپاره په بالفعله حکومت باندې اغېز وکړي. د خوځښت رهبرانو تر منځ د سولې او امنیت او پر راتلوونکې باندې د اغېزناک فشار ترمنځ د تعادل څرنګوالي په اړه اختلاف تر سترګو کېږي. یو زیات شمېر دغه رهبران پرېکړه کوي چې د هدف وړ ستراتیژۍ ولري څو د ټولنې زیاتو برخو سره د تعادل لهپاره د شخصي اړیکو لهلارې خپل پیامونه او ستراتیژۍ شریکې کړي. دغه ډلې په لومړیو کې له ښځو، ځوانانو، مترقي دیني علمانو او پخوانیو سیاسي مشرانو څخه جوړه شوې ده.



په ۲۰۲۳ ـ ۲۰۲۵ کلونو کې د ښوونکیو، ویناوالو، د بزګرو اتحادیې او خصوصي سکټور رهبران هم په دغه خوځښت کې مشارکت کوي. تر ۲۰۲۶ کال پورې د دغې ډلې په ترکیب کې د دیني عالمانو شمېر زیاتیږي. د وخت په تېریدو سره رهبري وده کوي او یو زیات شمېر نور خلک هم په دغه ډله کې شامليږي. د هغو کسانو په ډله کې چې په رهبرۍ کې شامل دي، ځو تنه یې بالفعله حکومت ته ژمن کسان دي چې په پټه د دغې ډلې فعالیتونه څاري.

هغه کسان چې له دغه خوځښت سره یوځای شوي، په خپله خوښه د حکومت بدلون لهپاره سره متحد کیږي، په قومي ډلو کې اختلاف او بې باوري داسې موضوعګانې دي چې په خوځښت کې وربانديې بحث نهکیږي.که څه هم د قومي ډلو ترمنځ بې باوري شته، خو د حکومت بدلون هدف د تحقق لهپاره په لنډمهاله توګه له پامه غورځول کیږي.

په دغه پړاو کې د بشري حقونو ښکاره سرغړونه شته، په داسې حال کې چې رسمي خبري رسنۍ په شدت سره سانسور کیږي او د بالفعله حکومت پر ضد نیوکو ته اجازه نهشته، خو ټولنیزې رسنۍ ډېرې فعاله دي. ډېرې داسې قومي او جنسیتي تاوتریخولي شته چې په ټولنیزو رسنیو کې په پراخه توګه او ګرافیکي بڼه خپریږي.

تاوتریخچني پیښې له دې ډلې ترهګریز بریدونه د هېواد په بېلابېلو برخو په ځانګړې ډل په ښوونځیو، بانکونو او حکومتي ادارو باندې ترسره کیږي. داسې ښکاري چې په هېواد کې ترهګریزو ډلو کې د غړیتوب او نفوذ کچه مخ په زیاتېدو ده. بالفعله حکومت د ناقانونه وسلو او نشهیي توکیو په کنټرول کې چې دواړوه یې د نا امنیتۍ په زیاتیدو کې رول لري، هیڅ ډول هڅه نهکوي. له دې سربېره، ځینې وختونه د ګاونډیو هېوادونو لهخوا د هېواد په ځینو سیمو هوايي بمبارۍ کیږي چې هدف یې په هېواد کې میشتو ترهګریزو ډولو ځپل دي او له دې سربېره د پاکستانیو او ایرانیو ځواکونو لهخوا د ترهګریزو ډلو د مهارلو په موخه ځمکنۍ ګزمې هم ترسره کیږي.

افغانان مخ پر زیاتیدونکې بڼه ناراضه دي. له بالفعله حکومت څخه نیوکې کوي او په پراخه کچه د بدلون له خوځښت سره یوځای کیږي. د بالفعله حکومت چارواکو کې



اختلافونه او د نظر توپیر زیاتیږي. په هېواد کې د وضعیت ترینګلتیا او د خلکو ځپل د بشري حقونو وضعیت په اړه د بین‌المللي ټولنې د نیوکو زیاتوالي لامل کیږي.

د خوځښت رهبرانو له بالفعله حکومت سره د ځلور کلنو ناکامو خبرو اترو وروسته پرېکړه وکړي چې پر حکومت کې د نفوذ هڅو څخه لاس واخلي او پر ځای یې نوی حکومت جوړ کړي. د دغه خوځښت رهبران د نوي حکومت جوړېدو طرحې د تطبیق پەموخه د یوې انتظامي شورا پر جوړېدو هوکړه کوي. هغوی مني چې که بالفعله حکومت د شورا پرېکړه ونەمني، د ځپلو لەپاره یې لازم ګامونه اخلي. کله چې دغه نوې پرېکړه کیږي، د خوځښت څو تنه رهبران چې د بالفعله حکومت جاسوسانو لەخوا ځارل کیدل، نیول کیږي.

په پایله کې د خوځښت په غړیو کې د باورۍ خطر رامنځته شوی او پر څو کوچینو ګروپونو باندې وېشل کیږي چې په قصدي توګه له یوبل سره ګډ هویتونه او فعالیتونه نەلري. د خوځښت فعالیتونه لاهم دوام لري او له دوو کلونو وروسته، په هېواد کې د پراخ ملاتړ ساتلو او د نوي حکومت لەپاره د خصوصي سکټور او نورو هېوادونو د ملاتړ جلبولو هڅې کوي.

په دغه پړاو کې ځینې بهرني هېوادونه له بالفعله حکومت څخه سیاسي ملاتړ کوي، یو شمېر ګاونډي هېوادونه چې په افغانستان کې میشتو ترهګرو ډلو له مخ پر زیاتیدونکي بریدونو سره مخ دي چې یو یې هم هغه برید وو چې په ترڅ کې یې ۲۰ پاکستاني سرتیري ووژل شوو، هغوی په پراخه بڼه په ملل متحد او څو اړخیزو سازمانونو کې د ترهګرو ډلو ودې په اړه بحث کوي.

په ۲۰۲۷ کال کې ګاونډي هېوادونه په افغانستان کې د نظامي مداخلې غوښتنه کوي خو کومه نظامي مداخله نه تر سترګو کیږي، بلکې هوکړه شوې چې په افغانستان کې د ترهګریزو فعالیتونه څارنه زیاته شي او د وضعیت خرابیدو په صورت کې د نظامي مداخلې په اړه بیاکتنه کوي.



د ۲۰۲۹ کال په لومړیو کې په دیاسپورا کې د مدني ټولنې غړي د ولسي ځوځښت رهبرانو سره په ګډه د سیمې ځواکمنو هېوادونو له حکومتونو سره غونډه کوي. په دغه ناسته کې خوځښت له څو ګاونډیو هېوادونو پرته له د نورو هغو له لورې د څرګند ملاتړ ژمنه نه ترلاسه کوي، خو د هغوی له تود هرکلي سره مخ کیږي. د بالفعله حکومت د نسکورېدو احتمال زیاتیږي. د دغو غونډې په دویم پړاو چې د ۲۰۲۹ کال په وروستیو کې د سیمې ځواکمنو هېوادونو ترمنځ جوړه شوې، خوځښت د څو هېوادونو لەخوا د مرستې خصوصي ژمنې ترلاسه کوي. دغه هېوادونه که څه هم د هغو تاوتریخوالو، نشەيي توکیو او ترهګرۍ څخه اندېښنه لري چې له افغانستان څخه د نړۍ نورو برخو ته صادرېږي، بلکې د سوداګرۍ هغه فرصتونه هم ګوري چې په افغانستان کې شته او له هغوی سره یو پیاوړی متحد پاتې کیدی شي.

د ۲۰۳۰ کال د اګیینت په ۱۵ له ۱۵۰۰ تنو زیاتو ولسي استازیو په ګډون ستره شورا چې د بالفعله حکومت ملاتړ ورسره نەشته،جوړېږي. د شورا غړي د خوځښت د رهبرانو لەخوا په پوره غور سره ټاکل کیږي خو په بشپړ ډول د افغانستان له ګوټ، ګوټ څخه استازیتوب وکړي چې په هغو کې د طالبانو منځلاري غړي هم شامل دي. دغه شورا د یو پراخبنسټه حکومت، د افغانستان د راتلوونکې لارې نقشه او د لنډمهاله حکومت پر رهبرۍ وروستۍ پرېکړې ته رسېږي. د امکان تر بریده ژر د عادلانه او آزادو ټاکنو تر سره کول د دغې شورا لومړیتوب دی. شورا همدارنګه له څو کلیدي بدلونونو سره د تیر اساسي قانون پر انفاذ هم هوکړه کوي.

د لارې نقشې اضافي اقدامات عبارت دي له:

- د فساد په اړه ټينګ دريځ نيول؛
- د مفسدينو مجازاتو او افشاء کولو څخه د ډاډ ترلاسه کولو په موخه د قانون تطبيق زياتوالی؛
- د تمويلوونکيو او عمومي مرستو د روڼتيا او حساب‌ورکوونې ښه‌والي له‌پاره د مالي سيستم بدلون؛
- د کوکنارو په شمول د هر ډول نشه‌يي توکيو د توليد اړوند ټولو فعاليتونو مخنيوی؛
- د کورنيو او ملي دفاع وزارتونو په ګډ مديريت سره د بې وسلې کولو ملي ټيم جوړول؛
- د پخوانيو مبارزينو له معيشت خدماتو څخه ملاتړ او همدارنګه د هغو بزګرو له‌پاره چې د ناقانونه نشه‌يي توکيو په توليد او کر کې ښکيل دي، د بديلو کرنيزو توليدوانو زمينې برابرول.

له لويې جرګې وروسته به نوی حکومت څه وخت او څنګه واک ترلاسه کړي؟ آيا دغه حکومت به د لارې نقشې پر تطبيق بريالی شي؟ د نوي حکومت چوکاټ کې د خوځښت بېلابېلو ډلو شتون به څنګه وي؟




# پرانیستې پردې

بهر ته د کتو لهپارد پردي لېرې کولو انځور د درک، اړېکو او بدلون لهپاره مخ په ودې وړتیا شته. د منځلارو او بېلابېلو سیاسي رهبرانو څخه جوړ یو کوچنی ګروپ د خبرو اترو، پخلاینې او جوړجاړي لهپاره سره راټولېږي.

په داسې حال کې چې په منځلارو غړیو کې د رنځ او بدبینۍ یو ډول احساس شته او د افغانستان د راتلوونکې لهپاره توپیر لرونکي لیدلوري لري، خو د یوبل منلو او یووالي لهپاره یوه هوکړه رامنځته کېږي. دلته ده چې د خبرو اترو او پخلاینې بهیر سوکه والي ته په کتو سره هېواد د یوې پراخې راتلوونکي لور ته درومي.

بینالمللي لوبغاړي د خبرو اترو آسانتیا برخه کې ښکیل دي او هڅه کوي څو دغه پروسه د افغانانو په مشرۍ پر مخ لاړه شي. د افغانانو د ژوند شرایط د حقوقو د زیاتوالي، د ژوند اړتیاوو ته د لاسرسي او انسجام له لارې په تدریجي ډول په ښه کیدو دی.



# مهال وېش

له ۲۰۲۲ کال څخه د ۲۰۲۳ کال تر پایه وضعیت همدارنګه د ترینګلتیا پر لور درومي. خلک او سازماني ګروپونه قیام کوي چې ځینې یې وسله هم لري او نور یې مدني خوځښتونه دي چې ټول د طالبانو واک ننګوي.

د افغانستان مدني ټولنه بیاځلي منظمېږي. د مدني ټولنې فعالان په هېواد کې دننه په دیاسپورا کې د مدني ټولنې فعالانو، د بالعفله حکومت له منځلارو او نورو سیاسي ګوندونو ترمنځ د غیررسمي اړیکو په رامنځته کولو او پراختیا باندې تمرکز کوي.

په دغه موده کې د بین‌المللي ټولنې له‌خوا د بالفعله حکومت سیاستونه ځپوونکي ګڼل کېږي خو خپل بشپړپالو مرستو ته دوام ورکوي او پرمختیایي او سیاسي مرستې ودروي. د بین‌المللي ټولنې د مشارکت نشتوالي له امله ټولنه له زیاتو ننګونو سره مخ کېږي او غیر حکومتي سیمه‌ییزو سازمانونو فعالیتونه او د بین‌المللي ټولنې بیړۍ مرستې افغانانو ته دا وړتیا ورکوي چې ژوندي پاتې شي.

له دې سره هممهاله،د ولسي پاڅونونو وسلوال فعالیتونه او همدارنګه تروریستي ګروپونه د طالبانو پر ضد خپلو پلان شویو بریدونو ته دوام ورکوي او پر روغتونونو، ښوونځیو، ښاري بسونو او کارخونو بمي بریدونه زیاتېږي. ځینې وسلوالې ډلې د خلکو د وحشیانه ځپلو له امله د طالبانو پرضد مقاومت کوي. هغوی د طالبانو له بریا څخه په الهام اخېستو د تاوتریخوالي له لارې د واک ترلاسه کولو هڅې کوي او غواړي چې طالبان له نظامي اړخه ونګوي. په دغو سازمانونو کې د ګمارنې کچه لوړه او زیاته ده. طالبانو د دغو ډلو په کنټرول کې خپله وړتیا له لاسه ورکړې ده. له ګاونډیو هېوادونو څخه هېواد ته د وسلو قاچاق د زیاتیدو په حال کې دی. په ۲۰۲۳ کال کې د نشه‌يي توکیو تولید او تجارت خپلې لوړې کچې ته رسیدلی دی.

د بالفعاله حکومت دننه د منځلارو او تندلارو ترمنځ اختلافات د ورځې په تېریدو سره راڅرګندېږي او د ګوندونو ترمنځ نښتې مخ په زیاتیدو دي. داسې ښکاري چې هېواد د تودې جګړو پر لور روان دی.

د ۲۰۲۴ کال په لومړیو کې د افغان مدني ټولنې د مشرانو یوه ډله چې له جګړو او ګډوډۍ څخه ستومانه شوي، غواړي چې له بالفعاله حکومت، وسلوالو ډلو او سیاسي ګوندونو سره د خبرو اترو یو پلتفارم جوړ کړي. د مدني فعالانو له‌خوا د اطلاعاتو شریکولو، شبکې جوړولو، د ګډو ستراتیژیو، خبرو اترو، وړتیا جوړولو د خبرو اترو دغه پلتفارم جوړېږي او نړیواله ټولنه یې ملاتړ کوي. دغه پلت فارم په افغانستان کې دننه او په دیاسپورا کې د مدني ټولنې ترمنځ په حضوري او مجازي اړیکو په ټینګولو سره رامنځته کېږي.





دغه ډله د سولې پخلاینې او پراخ بنسټه حکومت جوړیدو لەپاره هڅې خپلې موخې بیانوي. د دغې ډلې غړي چې په دیاسپورا کې دي، د یوې ډیپلوماتیکې ستراتیژۍ په جوړولو سره له بالفعله حکومت څخه غواړي چې د خبرو اترو میز ته راشي او له سیمەییزو خبرو اترو ملاتړ وکوي. هغوی وړاندېز کوي چې ملګري ملتونه دې د دغو خبرو اترو د آنچارې او څارونکي رول ولري.

د مدني ټولنې ډېری غړي د خبرو اترو تګلارو پر کیفیت شک لري. هغوی وېره لري چې په دغه بهیر کې د بالفعله حکومت ښکیلتیا هغه لاځواکمنوي او د مدني ټولنه اغېزناکتیا را کموي.

په دغه پړاو کې خلک که څه هم د جګړو شدت، فقر او ناهیلۍ سره مخ دي خو د جګړو پای لەپاره د مدني ټولنې هڅو ته هیله مند دي. له دې سربېره، بالفعله حکومت د ډېری هېوادونو لەخوا په رسمیت نەدی پېژندل شوی او مرستې هم ډېرې محدودې دي. د ښکیلو ګوندونو ځینې غړي په دې باور دي چې د افغانستان د پایښت لەپاره یوازېنی لار د ګډې سیاسي لارې موندل دي چې یو پراخ بنسټه حکومت رامنځته کړي او خلکو ته خپله غېږ پرانیزي. ټول ښکیل لوري هوکړه کوي چې له یوبل سره خبرې کوي او هڅه یې دا ده چې خپل اختلافات د خبرو اترو او پخلاینې له لارې حل کړي.

د خبرو اترو ایډیا په کابل کې د بین‌المللي او سیمەییزو لوبغاړو په ملاتړ ترسره کېږي. سیمەییز لوبغاړي له یوبل سره ګوري او دې اجماع ته رسېږي چې باید په افغانستان نښتې پای ته ورسېږي. هغوی ټول ښکیل لوري هڅوي چې د اختلافونو د حل لەپاره پراخ بنسټه حل‌لارې ومومي.

د ۲۰۲۴ کال په نیمایي کې په کابل کې د انتظار وړ خبرې اترې پیلېږي. بسپنه ورکوونکي افغانانو ته د خبرو اترو او همکارۍ په برخه کې له وړتیا لوړونې او روزنیزې څخه ملاتړ کوي. لومړني کسان چې د وړتیا جوړونې وړاندېز مني د افغانستان مدني ټولنې غړي او په دیاسپورا کې میشت افغانان دي خو هغوی یوازې نه دي. خپلواک مذهبي رهبران، د طالبانو غړي، د نورو وسلەوالو ګروپونو غړي او همدارنګه سیاسي ګوندونه

هم د وړتیا جوړونې په پروګرامونو کې برخه اخلي. دغه وړتیا جوړونه خبرو اترو ته له چمتووالي سربېره په ګډونوالو کې د رغانده اړیکو او لازیاتي همکارۍ لامل هم کېږي.

په همدې مهال د مدني ټولنې ډېرى غړي او د رسنيو کارکوونکي د عفوې او ښننې، د يو بل منلو، زغم، د خسارې جبران، وړتيا لوړونې، جوړجاړي او له هغو کسانو سره د مقابلې هڅه کوي چې په ناسمو اطلاعاتو خپرولو سره غواړي چې د خبرو اترو بهير کمزورى کړي. په ټولو ټولنيزو او متعارفو رسنيو کې دغه پيامونه لاپراخېږي او په افغانانو کې دغه احساس راټوکيدلى چې د يو ځاى ژوند کولو امکان شته دى.

د ۲۰۲۴ کال په پاى کې د ملي خبرو اترو لومړى پړاو د « کابل بهير» د يوې برخې په توګه په کابل اينټرکانتيننټل هوټل کې ترسره کېږي. په دغه پروګرام کې چې د ملګرو ملتونو سازمان په ګوربتوب او آسانتيا سره جوړېږي، په هېواد کې دننه او بهر افغانان سره راټولېږي او د هېواد د راتلوونکې په اړه خپل ليدلوري له يوبل سره شريکوي. په دغو ډلو کې د بالفعله حکومت غړي، وسلوالې ډلې، مذهبي مشران، رسنۍ، مدني ټولنه، خصوصي سکټور، د پوهنتونونو استادان او پخواني سياسي رهبران شامل دي. د دغې پروسې ګډونوال د ښځو او نارينه‌وو په ګډون د هېواد د بېلابېلو سيمو او قومونه ځوانان او مشران دي.



د دغو خبرو اصلي موضوعګانې لومړى له ملل متحد سازمان څخه غوښتنه ده څو د يو څاروونکي په توګه عمل وکړي او افغانستان ته خپل سوله‌ساتي ځواکونه راواستوي چې د خبرو اترو پر مهال د نښتو له پيښدو څخه مخنيوى وکړي. د حکومتولۍ سيسټم احتمالي جوړښت په اړه به د غونډې په پاى کې بحث وشي. اساسي قانون، عادي قوانين، خپلواکي او آزادي ( د بيان ازادي، د وينا ازادي) بشري حقوق، سياسي مشارکت او ځوانانو او ښځو رول به د دغو خبرو اجنداء جوړوي.

له لومړنيو خبرو اترو وروسته به د ټولو لوريو ترمنځ هوکړه وشي هر هغه افغان چې غواړي، هېواد ته راستون شي، بايد ورڅخه ساتنه وشي، که څه هم ډېرى لوري د دغې ژمنې د باوري کيدو په اړه اندېښنه لري، خو دغه بهير له دياسپورا څخه د افغانانو د تدريجي راتګ لامل کېږي. د ځايي مدني ټولنې څارنه به له دغه بهير څخه د لازيات ملاتړ لامل شي.

د ۲۰۲۵ کال په لومړيو کې به په هېواد کې د ځايي ډيالوګ بهير پيل شي. دغه بهيرونه په ملي کچه د خبرو اترو سره اړوند او د دغو خبرو اترو ډېره برخه منعکسوي. ښځې، سيمه‌ييزې شوراګانې اود جوماتونو امامان په پلټفارم کې په خپل ګډون سره دغه بهير ته مشروعيت او انګيزه ورکوي. هغوى د ګډ درک او سيمه‌ييز اقدام له‌پاره د فضاء رامنځته کولو او ملي بهير په اړه د معلوماتو رسولو مرستې له‌پاره د ټول هېواد په کچه ليدلوري وړاندې کوي او د خبرو اترو فرهنګ روحيه او د روزنيزو مسائلو په اړه د بحث وړتيا رامنځته کوي.
خبري اوټولنيزې رسنۍ د خبرو اترو بهير کې د لازياتو خلکو په ښکيلتيا کې مهم رول لري. ليدلوري به په پراخه کچه د ټولنيزو او نورو رسنيوز له لارې شريک شي. په افغانستان کې د بيان او وينا آزادۍ بهير درجه په لوړيدو ده. همدارنګه د بيان آزادۍ فرهنګ هم وده کړې ده.

له دياسپورا څخه د افغانانو مخ پر زياتيدونکي راستنيدنه او د افغانانو د اړتياوو پوره کولو له‌پاره د مدني ټولنې فعاليتونه وده کوي.

په ټوله دغه دوره کې د  ټولنې بېلابېلو فعالانو ترمنځ اختلاف او ترینګلتیا شتون لري. په بالفعله حکومت او مذهبي تشکیلاتو کې دننه، یو زیات شمېر کسان په دې باور دي، په بحثونو او جوړجاړویو کې ښکیلتیا به هېواد د سکولریزم پر لور بوځي چې په‌کې دیني تعلیماتو ته درناوی نه‌کېږي او هېواد هغه لور ته بیول کېږي چې لویدیز فرهنګ په‌کې برلاسه وي. دغه محافظه کاره فعالان یا هغه کسان چې هدف یې یو ټول ګډونه حکومت جوړول دي، سره مخالف دي. د دغو ترینګلتیا راکمولو لپاره ښکیل لوري په خبرواترو کې د روښانه پیامونو ورېاندې کولو ته دوام ورکوي چې افغانستان یو اسلامي هېواد دی او وي به، اسلام ته به درناوی کېږي او د افغانستان په چارو کې به بهرنیو مداخلو ته اجازه ور نه کړل شي.

همدارنګه په مدني ټولنه کې هم  یو شمېر کسان په دې باور دي چې له حکومت سره جوړجاړی د داسې یو هېواد لامل کېږي چې بشري حقوق به مراعات نه‌شي او قومي او جنسیتي تبیعضونه به رواجېږي. د مدني ټولنې ځینې فعالان د خبرو اترو له بهیر څخه نیوکه کوي او په هغو کې له ګډون څخه ډډه کوي. خو ځینې داسې کسان شته چې په پټه رغانده ستراتیژۍ جوړوي. د خبرو اترو په ملاتړو فعالانو کې هم مخالفتونه شي او د دغه بهیر یو شمېر غړي د نفوذ پراختیا، شهرت او واک ته د رسیدو هڅه کوي. دغه ترینګلتیاوې کله ناکله د سیاسي او شخصي قدرت پالنې لامل کېږي.

د ۲۰۲۵ کال په نیمايي کې د غیرنظامیانو د ملاتړ، د تاوتریخوالي راکمولو، د امنیت پیاوړتیا، د ملي سیاسي خبرو اترو د ملاتړ او د مسوولیتونو منلو لپاره د ملي چارواکیو وړتیا ورکوونې په موخه افغانستان ته د ملګرو ملتونو د سوله ساتو ځواکونو یوه کوچنۍ ډله راځي.

د ۲۰۲۶ کال په لومړیو کې به په «کابل بهیر» کې ښکیل فعالان لازیاتو خبرو اترو ته مخه وکړي. د خبرو اترو دغه پړاو کې د جګړو قربانیانو، لږکیو، مذهبي جریانونو، محصلانو او د دیاسپورا غړیو په څېر نورې ډلې هم ګډون کوي څو د افغانستان په راتلوونکي مسیر کې ونډه واخلي. دغه ډلې به د مذاکراتو په فرعي کمیټو کې ګډون وکړي او خپلې موندنې او غوښتنې مرکچي ټیم ته وسپاري څو پرېکړو کې ورڅخه استفاده وکړي.

د ۲۰۲۶ کال تر نیمايي پورې به ښکیل لوري په خبرو اترو کې د نوي حکومت جوړښت باره کې هوکړې ته رسېږي، د اوسني اساسي قانون پر اصلاح هوکړه کوي، له بین‌المللي معاهدو څخه خپل ملاتړ اعلانوي او د ټاکنو ترسره کیدو تنظیم په اړه به پر یو مهالوېش هوکړې ته رسېږي. ټول لوري دا څرګندوي چې په ټولو برخو کې د ښځو فعال ګډون د دغه بهیر د بریا راز دی. له دې سربېره هغوی همدارنګه د ملګرو ملتونو سازمان په مدیریت د بې وسلې کولو بهیر سره هوکړه کوي او دا تشخصیوي چې ټولو لوریو جنایتونه ترسره کړي او له خلکو څخه د هغو زیانونو له امله چې ورته اړولي یې دي باید بښنه وغواړي.

په دغو کلونو کې د ښځو وړتیا ورکوونې په برخه کې هیڅ د پام وړ مداخله نه ده شوې او ډېرې تېرې ننګونې په خپل حال پاتې دي. خو د کابل بهیر خبرو اترو بهیر او همدارنګه د ټولنې په کچه ښځې فعال ګډون لري. په دغو خبرو اترو کې ښکیل لوري هوکړه کوي چې هیڅ داسې قوانین او مقررات به نه وي چې د ژوندانه په ټولو اړخونو کې د ښځو له ګډون سره مخالفت وکړي.
په عمومي توګه په دغه پړاو کې په هېواد کې د حکومتي او خصوصي سکټور دوامداره پانګونه ترسره کېږي. ځینې پانګوال چې افغانستان یې پرېښی وو، ورو ورو راستنېږي او یو شمېر لوی شرکتونه د هېواد له اقتصاد سره د مرستې لارې چارې پلټي.

د ۲۰۲۶ کال تر پایه د کابل بهیر له لارې د روانو خبرو اترو د یوې مشخصې پایلې په توګه یو پراخ بنسټه او انتقالي حکومت تشکیلېږي. دغه انتقالي حکومت له ټولو سیمو څخه د ښځو او نارینه‌وو، قومي ګروپونو اوسیاسي ډلو څخه جوړ دی. د بین‌المللي ټولنې ډېری برخه‌وال دغه نوی انتقالي حکومت د یو مشروع مرجعې په توګه په رسمیت پېژني او رسمي اړیکې ورسره ټېنګوي.

د ۲۰۲۷ ـ ۲۰۲۸ کال پورې به دغه انتقالي حکومت به د نوی اساسي قانون تدوین چارې پیلوي څو د هغه مطابق ځینې کلیدي داخلي فعالیتونه لکه د ملي او محلي ټاکنو تنظیم او آسانتیا، بې وسلې کول او پخلاینې بهیر پیل شي. د ۲۰۲۸ کال تر نیمايي به د ملي او محلي

ټاکنو لپاره لومړنۍ کارونه پیلیږي او په ۲۰۲۹ کال کې به د دغو ټاکنو اساسي چارې ترسره کیږي چې له هغه وروسته به همهاله د بین‌المللي سوله ساتو ځواکونو د تلو پروګرام هم تر لاس لاندې نیول کیږي.
لندمهاله حکومت د خلکو د ستونزو راکمولو لپاره د بین المللي مرستو پر جذب تمرکز کوي. بین‌المللي ټولنه او سیمه‌ییز لوبغاړي د انتقالي حکومت له رول څخه ملاتړ کوي او خپلې مرستې ورسره پراخوي.

د ۲۰۲۹ کال په لومړیو کې په ټاکنو کې د ګډون او رأیې ورکولو بهیر په اړه د هېواد په ټولو برخو کې د خلکو د انسجام لپاره د روزنې په برخه کې د مدني ټولنې لخوا پراخ کمپاین ترسره کیږي.


د ۲۰۲۹ کال په وروستیو کې ملي او سیمه‌ییزې ټاکنې ترسره کیږي چې د افغانانو له پراخ هرکلي سره به ملې وي.



د ۲۰۳۰ کال په لومړیو کې ډېری افغانان د ملي فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي او د قومونو او ښځو او نارینه‌وو ترمنځ اختلافات لاهم دوام لري، د تاوتریخوالي پیښې ترسره کیږي او داسې کسان لاهم شته چې نوي حکومت ته د واک لیږد بهیر د ناکامۍ په صورت کې وسلو پورته کولو ته چمتو دي. له دې سره د اقتصادي ودې په څېر متقابل درک وده کوې او د انساني ودې شاخصونه د پرمختګ په حال کې دي.

له ټاکنو وروسته نوی منتخب حکومت اعلانیږي چې د بین‌المللي ټولنې او سیمه‌ییزو لوبغاړي له لوري په رسمیت وپیژندل شي. دغه نوی منتخب حکومت ژمنه کوي چې د کابل بهیر هوکړې ته ژمن دی، د پاتې نارضیاتیو له منځه وړلو او د ملت ټپ درملنې په موخه به ګامونه واخېستل شي او د افغانستان او افغانانو د وضعیت ښه‌والي لپاره به سیاسي، ټولنیز او اقتصادي پروګرامونه په لار واچول شي.

له ټاکنو وروسته حکومت به څنګه وي؟ آیا دغه بدلونونه به له متقابل درک سره دوام ومومي؟ آیا بهرنۍ پانګونه به د افغانانو د ژوند ښه‌والي لامل شي؟




# ګډون‌وال

د افغانستان مدني ټولنې د راتلوونکي لپاره د سناریو ټیم کې د مدني ټولنې د ۳۰ تنو کارپوهانو او فعالانو په ګډون توپیر لرونکي ډلې شاملې دي. هغوی د یو ټیم په توګه توپیر لرونکي مخینې او لیدلوري ( توپیرلرونکي دندې، جنسیت، نسلونه، موضوعي تخصص، قومي، مذهبي، ژبنی او سیمه‌ییز سوابق) لري چې دا هغوی ته د دې وړتیا ورکوي څو د یوې ټولیزې ستونزې په توګه د افغانستان مدني ټولنې پر وړاندې شته ننګونې درک کړي.

دغه سناریوګانې په ټولنیز ډول د څلورو توپیر لرونکیو راتلوونکیو په اړه توپیر لرونکې انځور وړاندې کوي. د سناریو د ټیم هر غړی په تقریبي ډول په یوې یا څو سناریوګانو کې د ځانګړیو عناصرو د معقولیت یا اړوندوالي په اړه توافق نه‌لري. په پایله کې د ګډونوالو دغه لړ لیک د پیښو رامنځته کیدو احتمال یا ضمني سپارښتنو باندې د اجماع ښودنه نه‌کوي، بلکې یوازې په خپله خلک ښیي ـ د ژمنو، زړه سواندو او توپیر لرونکي لوبغاړو یوه ډله چې یو ځای یې سره کار کړی، هیلمنده ده دغه سناریوګانې ښایي پراخې او ستراتیژیکې خبرې اترې وهڅوي چې له هغوی سره د افغانستان پرمختګ برخه کې مرسته کوي.

دغه سناریوګانې څلور توپیر لرونکې تخیلي راتلوونکې راښیي. د سناریو ټیم کابو هر غړی په احتمالي توګه په یو یا څو سناریوګانو کې د ځانګړیو عناصرو د اړوندوالي یا معقولیت په اړه هوکړه نه‌لري. په پایله کې د ګډونوالو دغه لړلیک د راتلوونکیو پیښو د احتمال یا ضمني وړاندیز ښودونه نه کوي، بلکې هیله مند دي چې دغه سناریوګانې به داسې ستراتیژیکې او پراخې خبرې اترې وهڅوي چې له افغانستان سره د پرمختګ په برخه کې مرسته کوي.



د سناریو ټیم
نازیلا جمشیدي
ذکیه محمودي
خان آقا داودزی
یونس طغرا
محمد رضا رفعت
نجیب پیکان
عنقا امین
نیلوفر ایوبي
سونیا احمدي
عالیه یلماز
خالد فهیم
جواد اسلمي
الهام کوهستاني
مرضیه قرباني
عبدالله هیواد
لطف الله نجفی زاده
جمیله افغانی

نور ګډون‌وال
مصطفی صدیقي
عزیز رفیع
دانش کروخیل

دغه نوښت د فولکې برنادوته Folke Bernadotte اکاډمۍ له خوا، د شرکای رئوس Reos Partners په همکارۍ او په افغانستان کې د اروپایي ټولنې د سولې د ملاتړ میکانیزم (EU APSM) تر چتر لاندې تطبیق شو.

# له سناریوګانو څخه څه ډول استفاده وکړو؟

*« له راتلوونکي سره نه بلکې په راتلوونکي کې ښکیلتیا چې  په اوس‌مهال کې ترسره کېږي. پر راتلوونکي تمرکز، له حال زمان سره زموږ د لیدلوري ډول بدلوي. څرنګه چې موږ حال زمان او د هغه ستراتیژیکي اړتیاوې بیاځلي درک کوو. له راتلوونکي څخه زده کړه ننګوونکي او پاروونکي ده، ځکه چې له حال زمان سره زموږ د تعامل بڼه د تل له‌پاره بدلوي.»*

— اولیور فریمن (Oliver Freeman)

دغه سناریوګانې وړاندوینې نه دي.

دا وړاندېزونه نه دي.

دا هغه داستانونه دي چې  راتلوونکي احتمالي مسیرونه تشریح کوي او له موږ سره د اوسني واقعیت سره  په خبرو، تفکر او ژور درک کې مرسته کوي.

د یوې سناریو یا د هغو د ټولګې بریا په راتلوونکي کې د پېښو په اړه نه بلکې په ننیو ستراتیژیو او غوراویو باندې د اغېزناکتیا پر بنسټ ارزول کېږي. ځینې وختونه تر ټولو مهمې سناریوګانې شاته تګ وي چې باید ورنه ډډه وکړو.
د سناریوګانو په چمتو کولو کې یوه ګډه ژبه رامنځته کوو چې موږ ته د حال او راتلوونکیو ننګونو په باره کې د خبرو امکان راکوي. د دغه بحث پر بنسټ کولی شو داسې غوراوی رامنځته او ستراتیژیک متحدین تشکیل کړو چې زموږ د مطلوبې راتلوونکي واقعیتونو د لوړاوي زمینه برابروي. له همدې امله خلکو کې د هغو په اړه بحث د سناریوګانو د بریا له‌پاره لازمي دی. دغه انعکاس کیدی شي فردي، ټولیز، مخامخ یا مجازي واوسي.

د سناریوګانو جوړښتي انعکاس هدف د هغه څه په اړه چې ښایي  پیښ نه‌شي، اجماع ته رسیدل دي. له سناریوګانو څخه په استفادې د پیښې د احتمال په باره کې بحث کې د بېلابېلو ګروپونو ګډون د فردي او جمعي ستراتیژیو په اړه د الهام اخېستو او معلوماتو له‌پاره د ممکنه مسیرونو او راتلوونکیو پراوونو ټاکل دي.

وړاندېز کوو چې د راتلوونکیو تمریناتو له تر سره کولو مخکې  د سناریو متنونه په بشپړ ډول مطالعه کړئ.

## 1. د سناریوګانو په اړه فردي تفکر
## زه شخصاً د سناریوګانو په اړه څه فکر کووم او د هغو په اغېزناکتیا کې زما رول څه ډول وینم؟

د افغانستان  مدني ټولنې راتلوونکي سناریوګانې د ټولو افغانانو او د هغو غیرافغانانو له‌پاره چې فکر او اقدامات یې د هېواد او خلکو پر راتلوونکي اغېز لري، اړوند دي.

دلته د سناریوګانو په اړه د فردي تفکر له‌پاره د پوښتنو او وسیائلو ټولګه وړاندې کوو. زه له تاسو غواړم چې په شخصي توګه پر دغو پوښتنو د پنځو دقیقو یا څو ساعتونو له‌پاره فکر وکړئ. ښایي وغواړئ چې څه شی انځور کړئ یا یې په خپله مجله کې منعکس کړئ. موږ بلنه درکوو چې د لیوالتیا په صورت کې د خپلو تأملاتو پایلې د مجازي او حضوري تعامل له لارې له خپلو ملګرو، شریکبانو، همکارانو او حتی هغو کسانو سره شریکې کړئ چې مخالفت ورسره لرئ.

# د فردي غبرګون لپاره پوښتنې

**هره سناریو**

سناریو مې کوم احساسات راپاروي؟
په دغه سناریو کې له کومو فرصتونو څخه ښه استفاده کولی شو او له کومو ګواښونو سره مخ یو؟
په هره سناریو کې کومه موضوع راته ډېره توپیر لروونکې ده؟
زه د دغه ممکنه راتلونکې لپاره نن ورځ څه کولی شم څو چمتو واوسم؟
نن کوم کار ترسره کولی شم څو دغې احتمالي راتلووتکې ته چمتو واوسو؟
که چېرې دغه سناریو پېښه شي، پر ما، پر هغو ګروپونو چې زه یې غړیتوب لري او پر افغانانو به څه اغېز ولري؟

**د سناریوګانو ټولګه**

ټولې سناریوګانې مو کوم احساسات راپاروي؟
اوس څه ګورو چې لیدلې مو نه وو؟

**راتلوونکې**

په راتلوونکې کې مو کومه موضوع اندېښمنوي؟
د کومې موضوع راتلوونکې مو احساست راپاروي؟

**زما رول**

زما د اغېز او مؤثریت کچه څومره ده؟
زه کوم رول لوبول غواړم؟
کوم کار کولی شم ترسره یې کړم څو پر راتلوونکې اغېز پرېږدم؟ کوم اقدامات ترسره کولی شم؟

# 2. د لاپراخو بحثونو لپاره د خوځښت رامنځته کولو سناریوګانو خپراوی

**څنګه کولی شو سناریوګانې په اغېزناکه توګه یو ګروپ ته وړاندې کړو څو په دې اړه د بحثونو خوځښت رامنځته کړي؟**

سناریوګانې یوازې له پیام سره مل یو محصول نه‌دی، بلکې د تفکر، بحث او اقدام لپاره یوه محرکه وسیله ده. د افغانستان مدني ټولنې راتلوونکې سناریوګانې د بېلابېلو غړونو ښکیلتیا او د هېواد، خلکو او بنسټونو راتلوونکې اړوند احتمالي فرصتونو، خطرونو او ګواښونو جلب او د بېلابېلو غړونو ښکیلتیا ته زمنیه برابره وي.
تاسو کولی شئ د پریزنټېشنونو، بحثونو، مناظرو، غونډو، رونیزو ورکشاپونو او د رسنیو او ټولنیزو شبکو له لارې د سناریوګانو په اړه د خبرونو په خپرولو سره دغه بهیر وهڅوئ او ونډه په‌کې واخلئ.

**کولی شئ سناریوګانې له لاندې لارو شریکې کړئ:**

1. له هغو کنفرانسونو او سیمینارونو په استفادې سره چې په‌کې ګډون کوئ ، سناریوګانې له نورو سره شریکې کړئ.
2. له هغو کسانو سره چې په ټولنیزو رسنیو کې د اړوندو موضوعګانو په اړه بحثکوئ او تعامل ولرئ، د سناریوګانو لینګ ورسره شریک کړئ.
3. د خپلو همکارانو، ملګرو، او ستراتیژیکو شریکانو لپاره یوه غونډه یا بحث برابر کړئ.
4. د سناریوګانو په باره/ اړه مقالې د ویبلاک پستونه او لیدلورې ولیکئ

# 3. د سناريوګانو په باره کې ټولیز انعکاس

**د سناریوګانو په باره کې ټولیز انعکاس ته څرنګه آسانتیا برابره کړو؟**

د سناریوګانو د خپرواي په اړه له عامه پوهاوي سربېره کولی شئ هغه کسان چې د سناریو په باره کې ګډ نظریات لرئ، ولټوئ. د بېلګې په ډول، کولی شئ په ټولنه، سکټور، همزولو، یا بېلابېلو خلکو کې چې په ورځنیو فعالیتونو کې په ګډه کار نه ورسره کوئ، د یو جمعي انعکاس کوربانه واوسئ. ستاسو د ټولیز انعکاس هدف ښایي د راټوکیدونکیو موضوعګانو او یا د احتمالي اقدماتو لهپاره د افکارو د تبادلې څخه د ګروپ درک وي.

که غواړئ په ډیالوګ کې ژورې کچې ته ورسېږئ، وړاندېز کووم چې داسې غونډې جوړې کړئ چې کم له کمه څلور ساعته وخت واخلي، له همدې امله به ډېر وخت ولرئ چې د سناریوګانو محتوا درک او څېړنه پهکې وکړئ او هم د ګروپ لهپاره د مفاهیمو په اړه نوی لیدلوری ترلاسه کړئ.

د دغه بحث د جوړښت لهپاره له لاندې جدول څخه استفاده وکړئ.

| | دغه سناریو زموږ په واک کې کوم فرصتونه راکوي؟ | آیا دغه سناري موږ له کومې ننګونې سره مخ کوي؟ | د دغې سناریو د تطبیق لهپاره څه باید وکړو؟ | پر دغې سناریو د اغېز لهپاره څه باید وکړو |
|---|---|---|---|---|
| **له درزونو څخه رڼا** | | | | |
| **د بدلون باد** | | | | |
| **پرانیستې پردې** | | | | |
| **پردې** | | | | |

# 4. د روزنیزم پروګرام په تنظیم کې له سناریوګانو څخه استفاده

**څرنګه کولی شم چې له سناریوګانو څخه د افغانستان او له هغه څخه په پراخه کچه مسایلو څخه د زدهکوونکیو د روزنې لهپاره استفاده وکړم؟**

کیدی شي له سناریوګانو څخه د سولې ټینګښت، حکومتولۍ، بشري حقونو، ټولنپېژندنې او نورو څانګو په برخه کې د اکاډمیکو پروګرامونو د محرک عنصر په توګه استفاده وشي.

که ښوونکی یا استاد یاستئ، کولی شئ د سناریوګانو په برخه کې یو لکچر چمتو کړئ او یا د ریپورټ، انټرنیټي پاڼې او ټولنیزو رسنیو له پستونو څخه د درسي توکیو په توګه استفاده وکړئ.

د څلورو سناریوګانو په باره کې د یوې مناظرې یا اکاډمیک سیمینار جوړول یو بل غوراوی دی چې کولی شئ له ګډونوالو وغواړئ چې په سناریوګانو کې د منعکس شویو ننګونو او فرصتونو او پر پالیسیو او ستراتیژیو د هغو د عواقبو په اړه خپل نظریات بیان کړي.

# 5. د سناریو پر مټ د ستراتیژیو او پالیسیو پراختیا

**زما او نور سازمانونه څنګه کولی شي چې له سناریوګانو څخه د خپلو ستراتیژیو او پالیسیو ښه‌والي په برخه کې استفاده وکړي؟**

سناریوګانې ښایي د یو سازمان د ستراتیژیو چمتو کولو او بیاکتنې او د نویو پالیسیو چمتو کولو له‌پاره یوه ګټوره وسیله یا لارښود واوسي. کله چې له سناریوګانو سره کار کوو، یو ستر او اوږدمهاله انځور ګورو. سناریوګانې د هغه کار له‌پاره چې سبا یې باید ترسره کړو، په مستقیم ډول ځواب نه وړاندې کوي. خو د هرې سناریو عواقبو په اړه په فکر کول مو دې ته ځیر کوي چې غواړئ ستاسو سازمان په کوم موقعیت کې وي؟ کوم ځواک ته باید پام واړول شي؟ او د افغانستان مخ په ودې راتلوونکې په اړه ستاسو هڅې چېرته لګول کېږي؟ سناریوګانې همدارنګه یو ستراتیژیک وضعیت رامنځته کوي چې له تاسو سره د نوښتونو او اقداماتو د پلان په چمتو کولو کې مرسته کوي.

دلته داسې نظریات، پوښتنې او وسیلې شته چې کولی شئ د ځانګړي ستراتیژیک پلان چمتو کولو کې د خپلو اړتیاوو پوره کولو برخه کې ورڅخه استفاده وکړئ

د ستراتیژۍ چمتو کولو په اړه پوښتنې

دعه سناریوګانې زموږ سازمان یا ټولو ته کوم فرصتونه، خطرونه او ننګونې چمتو کوي.
د ځان په اړه کومو اړوندو قوتونو، شاخصونو یا اخطار ورکوونکیو اشارو ته پاملرنه وکړو؟
د دغو څلورو سناریوګانو په پام کې نیولو سره زموږ اوسنۍ ستراتیژۍ څنګه د پایښت وړ وګرځي.
په هره سناریو کې باید په کوم موقعیت کې واوسو؟
زموږ د پام وړ موقعیت کوم دی؟
د کومو ستراتیژیو او پالیسیو تعقیبول غواړو؟
کوم کارونه باید ترسره نه کړو، کوم کارونه باید پیل کړو او کومو کارونو ته باید دوام ورکړو؟
اوس باید د څه په اړه فکر وکړو او کوم کارونه ترسره کړو؟

دغه نوښت د فولکه برنادوته اکاډمۍ له‌خوا د رئیوس په همکارۍ او مشارکت او په افغانستان کې د اروپايي ټولنې له سولې څخه د ملاتړ میکانیزم (EU APSM) تر پوښښ لاندې طرحه او تطبیق شو.

دغه سند د اروپايي ټولنې په مالي ملاتړ چمتو شوی دی. په دغه سند کې درج شوي نظریات په هیڅ ډول سره د اروپايي ټولنې رسمي نظر نه منعکسوي.

انځورونه او طرحه: تووا مایس Toa Maes.

دغه سند د ګډو سندونو د غیر سوداګریز نړیوال بنسټ Creative Commons Attribution-NonCommercial-ShareAlike4.0 له خوا جواز ترلاسه کړی دی.

د لازیاتو معلوماتو لپاره په info@fba.se پته برېښنالیک واستوئ.